# شریعت

اونیزه

د افغانستان د طالبانو د اسلامی تحریك نشراتی ارگان


### دچا سپکاوی مه کویٔ!

«ای هغو کسانو چی ایمان یی راوړی دی (ای مؤمنانو) یو قوم دی په بل قوم مسخری او د هغوی سپکاوی نه کوی، ښایی چی هغوی له دوی نه (د الله په وړاندی) ښه او غوره وی. او نه خو دی ښځی په نورو ښځو (ټوکی او سپکاوی) کوی، ښایی چی هغوی (د الله په وړاندی) له دوی څخه غوره او بهتری وی».

(الحجرات - ۱۱)

### بد انسان هغه دی چی سپکی خبری کوی

له حضرت عائشی (رضی الله عنها) څخه روایت دی، چی رسول الله (صلی الله علیه وسلم) فرمایلی دی: «د قیامت په ورځ به له ټولونه بد انسان هغه وی چی خلك له ده څخه د ده دشر او بدو خبرو له امله ډډه کوی».

(بخاری - مشکوة)


لومړی کال | اوولسمه گڼه | دوشنبه د ۱۳۷۵ هـ ش کال دغویی(ثور) د میاشتی ( ۲ ) | د ۱۹۹٦ میلادی کال د اپریل(۲۲) | د ۱٤۱۷ ق کال محرم الحرام (٤)


الحاج ملا محمد حسن آخند له محمود مستیری سره په خبرو کی،

# دا خبره هر چاته معلومه ده چی طالبان سوله او اسلامی نظام غواړی

## څوك چی د افغانستان دمشکلاتو حل لپاره کوښښ کوی موږ یی ملاتړ کوو

له کندهار څخه د شریعت د اوونیزی خبریال خبر راکوی چی د ملگرو ملتونو خاص استازی ښاغلی محمود مستیری د وری په ۲۹ نیټه کندهار ته ورسید او د طالبانو د اسلامی تحریك له مشرانو سره یی وکتل.

خبریال زیاتوی چی د ملگرو ملتونو خاص استازی ښاغلی محمود مستیری د طالبانو د اسلامی تحریك د عالی شوری په خاص میلمستون کی د عالی شوری له سرپرست او د کندهار له والی محترم حاجی ملا محمد حسن آخند سره (٤مخ)

### د خلافت لومړی گڼه له چاپه راووتله

د طالبانو د اسلامی تحریك د گټورو خپرونو په لړ کی دادی په ډیر ښکلی صحافت د خلافت د دوه میاشتنی مجلی لومړی گڼه له چاپه راووتله، د مجلی د پښتی په لومړی مخ د خرقی مبارکی او جامع جومات د یوی برخی تاریخی عکس د مجلی ښکلا او درښت لا ورزیات کړی دی، همدا رنگه د مجلی د پښتی د څلورم مخ تصویر د کابل (٤مخ)

جناب مولوی وکیل احمد به ارتباط سفر خانم رافل به قندهار گفتند:

## ما همیشه برای صلح کار کرده ایم، اگر مسئله افغانستان بغیر ازجنگ حل میشود، چرا به آن حاضر نباشیم که مسئله راحل نمائیم

خبرنگار ما از قندهار خبر میدهد که: خانم رافل در قندهار با سران تحریك اسلامی طالبان من جمله مولوی امیرخان متقی رئیس اطلاعات و کلتور دیداری داشتند.

جناب مولوی وکیل احمد منشی شوری عالی تحریك اسلامی طالبان به این ارتباط چنین گفتند: خانم رافل (صفحه٤)

## طالبان افغانی مدارس صوبه سرحد (پاکستان) با جناب امیرالمؤمنین بیعت نمودند

### به تعداد کثیر از طالبان افغانی آماده، رفتن به سنگر های داغ جهاد شدند

به اشتراك اعضاء شوری مرکزی علماء (الحاج مولوی محمد صادق، مولوی نورمحمد ثاقب، مولوی شهاب الدین دلاور ومولوی محمد مسلم (حقانی)جلسات بزرگی درمدارس صوبه سرحد (پاکستان) دایر گردید

خبرنگار ما از پشاور خبر میدهد که: در مدارس دینی صوبه سرحد پاکستان جلسات بزرگی از طرف طلاب افغانی مدارس صوبه سرحد به اشتراك اعضاء بارز شوری مرکزی تحریك اسلامی طالبان (الحاج مولوی محمدصادق، (صفحه٤)

### دنیکمرغه لوی اختر په مناسبت د محترم امیرالمؤمنین پیغام

بسم الله الرحمن الرحیم

ټولو مسلمانانو! د اسلام په سنگر کی پرتو طالبانو، مجاهدینو، بی سرپرسته یتیمانو، د شهیدانو وارثانو، غمجنو مؤمنانو اوټولو هغوخلکو چه دالله تعالی په دین مو خوابدیږی،
السلام علیکم ورحمة الله و برکاته!

**لوی اختر مو مبارك شه!**

په دغه اختر کی لکه څرنگه چی ابراهیم (علیه السلام) او دهغه دزړه سر حضرت اسمعیل (علیه السلام) دخدای (جل جلاله) له آزموینیته کامیاب راووتل.

پاك خدای(ج) دی موږ او تاسی ته هم داسی کامیابی را نصیب کړی.

زه خو دا وایم چی الله پاك زموږ د شهیدانو وینی او زموږ سعیی ته برباده وی زه خو خپله انشاء الله تعالی په واړ سره امید لرم چه زموږ په ولس به یو بختور لمر راوخیژی، ظالمان به خدای(ج) ورك کړی. خدای پاك ډیر غیرتی ذات دی هغه په خپل قرآن باندی ډیر غیرت کوی هغه په خپل دین باندی ډیر غیرت کوی، اسلام نه خرابیږی یدی کی موږ آزموښت چه د حق په لار څوکه د باطل. موږ خودادی تاسی وینی چه د خدایٔ ددین لپاره مو ملاوی تړلی او د تاسی د پت او عزت ساتلو لپاره مو سربښندنی کړی او کووښی یدی لاره کی ډیر طالبان شهیدان شول او شهیدانیږی. موږ خوهم اخیر د خدایٔ عاجز بندگان یو، مسئولیتونه مو درانه دی د تاسی هر ډول خالصانه ملاتړ ته احتیاج یو، تاسی هم خپل ایمانی مسئولیتونه له غاړی واروئ له هرڅه مخکی په خپلو ځانونو او اولاد وتوباندی اسلامی شریعت پلی کړئ تر څو پاك الله(ج) او دهغه رسول(ص) راضی او زموږ د مبارکو شهیدانو ارمانونه پوره شی. دښمنان او ظالمان بیخی کمزوری شوی دی. که خدای(ج) کول ژربه تاسی په وطن کی د اسلام او قرآن د پوره حاکمیت زیری واوروئ انشاء الله.

یو ځل بیا دلوی اختر مبارکی درته وایم. خدای مو حافظ او ناصر شه.

(محمد عمر مجاهد)

## دشهرك ولسوالی دکابل اداری له عمالو څخه پاکه شوه

### په دغو تصفیوی عملیاتو کی دغور والی ملیم «خلیلی» په گډون پنځوس تنه مړه او پنځوس تنه اسیر شول

### دمجاهدینو تصفیوی عملیات په بری سره مخ په وړاندی روان دی

دغور له ولایت څخه د شریعت خبریال خبر راکوی چی د طالبانو د اسلامی تحریك سر سندونکو مجاهدینو د شنبی په ورځ د ثور په لومړی نیټه د هغه ولایت د شهرك ولسوالی د کابل د تش په نامه اداری له عمالو څخه پاکه کړه.

خبریال زیاتوی په دغو تصفیوی عملیاتو کی دغور ولایت دوالی خلیلی په گډون دکابل اداری (٤مخ)

### قوماندان اعتمادی له خپلو دوو زرو تنو افرادو سره د اسلامی تحریك په لیکوکی ودرید

د ارزگان ولایت له ترینکوټ څخه زموږ خبریال خبر راکوی چی د هغه ولایت پوناموتو قوماندان له خپلو دوو زرو تنو افرادو او زیات شمیر سپکی او درندی وسلی سره د طالبانو د اسلامی تحریك په لیکو کی ودرید.

خبریال زیاتوی چی قوماندان اعتمادی ژمنه وکړه چی په وطن کی به د اسلامی شریعت تر نافذیدو پوری خپلی هیڅ ډول مرستی او همکاری نه سپموی، په مقابل کی د اسلامی تحریك مسئولینو دده دغه اسلامی اقدام وستایه او په خپله غیږ کی یی ځای ورکړ.

## مجاهد علماء کرام دی مطمئن اوسی چی زه به دیو وفادار عسکر په شان ددوی ترشا ولاړیم

### زموږ د قربانیو په نتیجه کی د شوروی اتحاد امپراتوری توټی توټی شوه

(الحاج مولوی جلال الدین حقانی)

د افغانستان د جیدو علماء و هغی لوئی شوراته چه د قندهار په تاریخی ښار کی جوړه شوی وه، د جهاد د اتل قومندان مولنا جلال الدین حقانی د شفاهی پیغام متن چه دده د خاص مخلص استاذی الحاج حبیب الله منگل لخوا شوری ته واورول شو. (څلورم مخ)

## حملات اخیر بر جنوب لبنان نشان دهنده، بی اعتنائی به حقوق بشری و دشمنی حاد اسرائیل با مسلمین و اسلام میباشد

### حملات اخیر اسرائیل نشان دهنده، عدم اصولیت موافقات اخیر عرب، اسرائیل میباشد

ملل متحد در مقابل حملات اسرائیل نتوانست که مکلفیتهای بشری خود را در قبال مردم مظلوم لبنان اداء نماید

(طالبان صوبه سرحد)

در این اواخر یهود مغضوب با زیرپا کردن همه اصول و مقررات پذیرفته شده، بین المللی بر حریم خاك لبنان تعرض گسترده نظامی نموده و بشدت و حدت حملات هوائی، توپچی، و دریائی خود (ص٤)

## د فساد په مقابل کی جگړه د اسلام د اصولو له مخی یو جایز عمل دی

### د کابل اوسنی اداره نه یوازی اسلامی بنه نه لری بلکی د جهاد دعالی اهداف یی په اوبو لاهو کړل

(الحاج مولوی محمدصادق)

طالبان د علماو کرامو په فتوی راپاڅیدلی او ترنیمایی افغانستان څخه زیاتی سیمی یی له فساد نه پاکی کړی دی

(مولوی احمد جان)

د تیری پنجشنبی په ورځ د وری په ۳۰ نیټه په پیښور کی د طالبانو د اسلامی تحریك په نمایندگی کی په صوبه سرحد کی د اوسیدونکو علماء کرامو یوه پرتمینه غونډه جوړه شوه. (څلورم مخ)

### زموږ هدف په هیواد کی د اسلامی شرعی حکومت ټینگښت او د شهیدانو د پاکو وینو درناوی دی

د خوست والی حاجی آغا

### موږ او طالبان دیو وجود بیل بیل غړی یو

(مولوی عبدالحکیم شرعی)

### موږ کوښښ کوو چی خلك په دادی زړه پرته له ویری خپل ژوند ته دوام ورکړی

(امنیه قوماندان قاری عبدالمتین)

### دامیرالمؤمنین په توگه د مجاهد ملامحمدعمر آخند ټاکنه دوخت مهم ضرورت و

(مولوی ارسلان رحمانی)

له خوست څخه زموږ خبریال خبر راکوی چی د جمعی په ورځ د وری په ۳۱ نیټه دهغه ولایت علماء کرامو، قامی مشرانو، سپین ږیرو او عامو خلکو په (٤مخ)

## دطالبانو د اسلامی تحریك پرخلاف چی څوك حرکت کوی موږ به یی په ټینگه مخه ونیسو

### دخوست او پکتیا خلك هغه څوك دی چی ترهر چا دمخه یی مقدس جهاد پیل کړی دی

### د سر او مال قربانی مو ددی لپاره ورکړی دی چی په هیواد کی اسلامی نظام نافذ شی

### اسلامی حزب کوم خاص دریځ نه لری له هر چا سره دهر چا پر خلاف سازش او ائتلاف کولای شی

(حاجی عبدالرحمن ځدراڼ)

د خوست ولایت دځاځی میدان ولسوالی څخه زموږ خبریال خبر راکوی چی تیره اوونی د هغه ولایت یو شمیر علماء، سپین ږیری او قامی مشران چی الحاج مولوی جلال الدین حقانی، الحاج عبدالرحمن ځدراڼ، الحاج وزیر منگل، الحاج محمد نعیم کوچی حاجی حضرت هم پکی شامل وو د ځاځی میدان د ولسوالی د اسلامی حزب له هغو کسانو سره وکتل (٤مخ)

### سرمقاله

## داختر خوشحالی اوکه د ثور غمونه؟

په داسی حال کی چی د افغانستان مسلمان او مجاهد ملت دلوی اختر د نیکمرغوشپو ورځو دهرکلی لپاره تیاری نیسی دیوی داسی ستری فاجعی یادیی زړونه بوگنوی چی اتلس کاله دمخه په همدی شپو ورځو کی یی زموږ مسلمان او متدین هیواد وال له یوه ستر ناورین او بدبختی سره مخامخ کړل، اتلس کاله کیږی چی د همدغی زړه بوگنوونکی فاجعی له امله زموږ مسلمان هیوادوال د ژوند له هر ډول خوښی او ارامی څخه محروم دی په تیرو اتلسو کلونو کی زموږ پر لرغونی اسلامی هیواد داسی تاراکونه تیر شول چی په تاریخ کی یی څوك مثال نه شی پیدا کولای، په تیرو اتلسو کلونوکی زموږ د هیواد ودانی لاپسی په کنډوالو بدلی شوی چی د ودانیو نښه یی هم څوك نه شی موندلای او په تیرو اتلسو کلونوکی زموږ اجتماعی او سیاسی اداره لاپسی ریجاړه شوه چی اوس یی دحل دلاری د موندلو څرك نه لیدل کیږی.

هوا د ثور یا د غویی اوومه نیټه زموږ د تاریخ هغه توره ورځ ده چی په دی ورځ د شمال له خوا داسی شمال راوالوت چی زموږ رسیدلی درمندونه یی له خاورو سره خاوری او زموږ شنه فصلونه یی له ځمکی سره لیو کړل، په دی توره ورځ یو شمیر روسی غلامانو (خلقیانو او پرچمیانو) د خپلو روسی بادارانو په مستقیمه قومانده د انسانیت په تاریخ تور داغ ولگاوه او د افغانانو د عامی وژنی لړۍ یی پیل کړه او په دی ورځ زموږ په لرغونی اسلامی هیواد کی د ظلم، وحشت او بربریت تیژه کیښودل شوه چی دا ده ددغو بدمرغیو او مصیبتونو سلسله تر اوسه پوری په هماغومره شدت او قوت سره روانه ده.

د افغانستان مسلمان او مجاهد ملت د خلق او پرچم د مزدورو ډلگیو ددغه ظلم او ناروا په وړاندی د خپلو دینی علماؤ د فتوی له مخی را پاڅید او داسی میړنی مقابله یی ورسره پیل کړه چی نږدی وه دغه مزدوری ډلگۍ را وپرزوی او پر ځای یی د مسلمان ملت په خوښه اسلامی نظام نافذ کړی، تر څو روسان مجبور شول د خپلو غلامانو د پښو د ټینگولو لپاره دوخت په عصری او وژونکو وسلو سمبال یو نیم لك پوځ زموږ هیوادته راولیږی چی په دی توگه یی زموږ هیوادوال له یو بل ستر کړاو سره مخامخ کړل، ځکه که پرون د کورنیو کمو نستانو په مقابل کی جنگیدل، نو نن مجبور شول چی د وطن د ازادیٔ ملی گټو، ځمکنی تمامیت او ترټولو مهمه د اسلامی نظام پر پښو درولو مسئله هم له پامه و نه غورزوی، نو د دین دساتنی او د وطن د ازادیٔ دواړه مهم مسئولیتونه وریه غاړه شول، تر څو دلوی خدای(ج) په مرسته او د بی مثاله (۲مخ)

### د مسلمانی عقیده

دوهم مخ

### په اسلامی نړۍ کی د ناسیونالیزم سرطانی جراثیم

دوهم مخ

### په آزموینت کی یو بل آزموینت

دوهم مخ

### د افغانستان د دینی علماء کرامو پریکړی په وړاندی د مسلمانانو مکلفیت

دوهم مخ

### خدمات دینی و اجتماعی علماء در تاریخ معاصرکشور

نخستین جنبش فکری«سراج الاخبار»

(ص سوم)

### لوی اختر مسلمانانوته د اسلامی وحدت او قربانی درس ورکوی

(دریم مخ)

### روسی بندیان په کندهار کی

(دریم مخ)

### د اختر دمبارکی پیغام

د شریعت د اوونیزی مسئول او د تحریر هیئت دلوی اختر د رارسیدو له امله امیرالمؤمنین مجاهد ملامحمدعمر اخند، د اسلامی تحریك عالی شوری او فعالینو، مسلمان او مجاهد ملت او اسلامی امت ته د خپلی مبارکی مراتب څرگندوی. دلوی او مهربان خدای(ج) په دربارکی سوال کوی چی ددغو بختورو ورځو له برکته په گران هیواد افغانستان کی د اسلامی نظام په ټینگښت سره سوله او امنیت منځ ته راشی.

### ضروری اعلان

لکه څرنگه چی د دینی طالبانو اسلامی پاڅون سره د فسادانو چورچپاول اوی ختم او په ډیره لږه موده کښی له نیمائی نه د زیات افغانستان کنترول او امنیت نه وروسته هلته د اسلامی ادارو د قائمیدو سره سره شرعی عدالت قائم شوی دی، دغه ټول کارونه چه تر سره شؤ دلوی خدای(ج) په نصرت او د مسلمان ملت په حمایت او همکاری شوی دی څرنگه چه مسلمان اولس ته ددی سپیڅلی پاڅون په اقتصادی مرستو کښی لویه برخه حاصله ده. نو یو ځل بیا عامو مخلصو مسلمانانو ته دعوت ورکول کیږی چه د دغه پاڅون سره د یخوا په شان د خپلو مالی مرستو په سلسله کی دلوی اختر د قربانی څرمنی یا د ۲۰ ر معادل بیه د طالبانو په مالی بانگه کښی داخل او د دارینو پوره پوره ثواب حاصل کړی. والسلام په ډیر درنښت.

د رابطی لپاره: آبدره روډ د پاسپورت دفتر یخواکی د طالبانو د اسلامی تحریك نمایندگی. تیلفون: ۸٤٤٣٣۱ - ۸٤۰۳۷۸

الداعی الی الخیر د طالبانو د صوبه سرحد نمایندگی

# شریعت

د امتیاز خاوند : د افغانستان د طالبانو اسلامی تحریك
د تاسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
د لیکوال هیئت تر کتنی لاندی
مسؤول مدیر : الحاج مولوی احمدجان
ټیلفون : ۸٤۰۲۷۸
آدرس : په پیښورکښی دطالبانواسلامی تحریك نمایندګی
دیوی ګڼی بیه : په هیواد کښی (۳۰۰) افغانی
په پاکستان کښی (۳) کلداری

## سرمقاله ...

قربانی په برکت یی نه یوازی روسان او دهغوی غلامان له غوڅی ماتی سره مخامخ کړل بلکی شوروی اتحادیی هم داسی دړی وړی کړ چی اوس دنړۍ په نقشه کی د شوروی اتحاد په نامه کوم هیواد وجود نه لری.

خو له بده مرغه د مجاهد ملت له ویاړ من بری سره جوخت د ثور په اتمه نیټه ددی پرځای چی د جهاد عالی اهداف تحقق ومومی، د مسلمان او مجاهد ملت په خوښه واقعاً اسلامی نظام نافذ او د شهیدانو پاکو وینو ته درناوی وشی دیو شمیر ځان غوښتونکو عناصرو د ځان غوښتنو او شخصی ګټو له امله یوځل بیا زموږ دردیدلی، کړیدلی، ځپل شوی او کړول شوی ملت له یویل داسی کړاو سره لاس او ګریوان شو چی هیچا هم په دی اړه فکر نه شو کولای. کنډواله شوی وطن لاپسی کنډواله شو، سمتی، ژبنی او تنظیمی تمایلات خپل اوج ته ورسیدل، مسلمان ورڼه عامه شوه، ملی او شخصی ښمنی ولوټل شوی او یو داسی دور پیل شو چی زموږ د مسلمان او مجاهد ملت ټول سپیڅلی ارمانونه یی ترخاورو لاندی کړل.

نو په دغه شان ویرجنو او کړاوجنو حالاتو کی به افغان مسلمان ملت څه وړل د اختر بختورو ورځوته هر کلی ووایی. په داسی حال کی چی دوطن د بچیانو بدنونه پخپلو وینو سره دی، نو د اختر تکریزی به څه وړل د هغوی تنکیو لاسونو ته لار پیدا کړی، د وطن تنکی ځوانان به د اختر د میلو لپاره د خپل وجود په وینو سری جامی چی د چوکی او قدرت د لیونیانو د لیونیو هوسونو دغوښتنو په نتیجه کی سری دی څنګه له خپلو ځانونو څخه وباسی او میلوته به ژړونه ښه کړی، زموږ د وطن بی شمیره یتیمان، بی شمیره کونډی، یوری او وراری به د اختر په دی بختورو شپو ورځوکی د خپلو سترګو د اوښکو ویالی څنګه ودروی او کوم زړه سواند به پیدا شی چی ددغو بی اسری افغانانو اوښکی پاکی کړی او بالاخره د وطن په ګوټ ګوټ کی د ثور د اوومی نیټی دغه بل شوی اور چی د ثور په اتمه نیټه یی لمبی لاپسی ژبغړاندی شوی په کومو اوبو کنترول او دتباهی له مسیر څخه راوګرځول شی.

موږ په داسی حال کی چی خپل مسلمان، مجاهد او قهرمان ملت ته دلوی اختر د نیکمرغو ورځو مبارکی وایو دلوی خدای(ج) په دربار کی سوال کوو چی د خپلی خاصی مهربانی له مخی زموږ له خوږه اسلامی وطن څخه دغم او ویر دغه غوړیدلی ټغر د طالبانو د اسلامی تحریك د نیکانو په لاس ټول او په بدل کی سوله، په ټول افغانستان کی استقرار او په نهایت کی د صالح قیادت په لاس د اسلامی نظام قیام را په برخه کړی. (آمین).

# د مسلمانی عقیده

پنځلسمه برخه

غازی خیل

### د فقهی تاریخ او څلور مذهبو

په دغه - دریم - دورکی مشهور مفتیان په مدینه منوره کی:

۷- علی بن الحسین(رض) بن علی(رض) زین العابدین رحمة الله تعالی علیه - د شیعه وو څلورم امام ؤ - له خپله پلاره حسین(رض)، کاکا حسن(رض)، ام المؤمنین عایشی(رض) ابن عباس رضی الله تعالی عنهم او نورو څخه روایت کوی حدیثونه یی کم ؤ مګر ښه فقیه، د فضیلت او پرهیز خاوند ؤ په ۹٤ هجری کال کی وفات شوی دی.

۸- عبیدالله بن عبدالله بن عتبه بن مسعود: له ام المؤمنین عائشی، ابی هریره، ابن عباس او نورو رضی الله تعالی عنهم نه یی علم زده کړی دی، له دی سره سره چی په فقه او حدیثونوکی امام ؤ ډیر ښه شاعر هم ؤ او د امام عمر بن عبدالعزیز مربی استاذ ؤ، زهری (رح) وایی د علم له دریابونو څخه ؤ. په ۹۸ هجری کال کی وفات شوی دی رحمة الله تعالی علیه.

۹- سالم بن عبدالله(رض) بن عمر(رض)- رحمة الله تعالی علیه، له خپل پلار، ام المؤمنین عائشی، ابی هریره رضی الله تعالی عنهم او سعید بن المسیب رحمة الله تعالی علیه نه یی علم زده کړی دی. په پلار باندی ګران ؤ، امام مالك ویلی دی چی دده په وخت کی دده په شان له سلفو صالحینو سره په زهد او فضل (علم) کی هیڅوك هم برابر نه وؤ، د پلار په شان د ژوند ساده لاره یی وه- په ۱۰٦هـ وفات شوی دی رحمة الله تعالی علیه.

۱۰- سلیمان بن یسار- رحمة الله تعالی علیه د ام المؤمنین میمونی رضی الله تعالی عنها ازاد کړی شاګرد، له دی(رض)، له ام المؤمنین عائشی، ابی هریره، ابن عباس، زید بن ثابت او نورو رضی الله تعالی عنهم نه یی علم اخستی دی او روایت ورڅخه کوی، د سعید بن المسیب رحمة الله علیه په سویه عالم ؤ. هغه (رح) به فتوا غوښتونکی ده ته وراستول- په ۱۰۷هـ کی وفات شوی دی رحمة الله تعالی علیه.

۱۱- قاسم بن محمد بن ابی بکر(رض)- رحمة الله تعالی علیه، له خپلی عمی ام المؤمنین عائشی، ابن عباس، ابن عمر او نورو رضی الله تعالی عنهم نه یی علم زده کړی دی او روایت ورنه کوی، دده روزنه دده عمی (رض) کړی ده، امام، فقیه، ثقه، د اوچت شخصیت خاوند، پرهیزګار او کثیرالحدیث ؤ، په ۱۰٦هـ کی وفات شوی دی رحمة الله تعالی علیه.

۱۲- نافع د عبدالله(رض) بن عمر(رض) ازاد کړی شاګرد رحمة الله تعالی علیه له ده (رض)، اُم المؤمنین عایشی، ابی هریره او نورو رضی الله تعالی عنهم څخه روایتونه کوی، عمر بن عبدالعزیز رحمة الله علیه مصر ته واستاوه چی مصریانوته د سنت (شریعت) تعلیم ورکړی، د سالم (رح) په ژوند یی د ادب له مخی فتوانه ورکوله، دیرش کاله ی د عبدالله بن عمر رضی الله تعالی عنهما خدمت کړی دی، په ۱۱۷هـ کی وفات شوی دی رحمة الله تعالی علیه.

۱۳- محمد بن مسلم چی په ابن شهاب زهری مشهور دی، رحمة الله تعالی علیه په (۵۰هـ) کی زیږیدلی دی له عبدالله بن عمر، انس بن مالك سعید بن المسیب او نورو رضی الله تعالی عنهم- څخه یی حدیثونه روایت کړی دی، ډیر جامع عالم ؤ هغه وخت امامانو دده په زیات علم ګواهی ورکړی ده ان تردی چی امام مالك رحمة الله علیه ویلی دی چی دده په وخت کی دده ساری نشته، په ۱۲٤هـ کی وفات شوی دی رحمة الله تعالی علیه،

۱٤- ابو جعفر امام محمد، الباقر بن علی زین العابدین بن الامام حسین رضی الله تعالی عنه و عنهم د شیعه وو پنځم امام، له خپل پلاره او جابر، ابن عمر او نورو رضی الله تعالی عنهم څخه روایتونه کوی پخپل وخت کی د بنی هاشمو سردار ؤ، په ۱۱٤هـ کی وفات شوی دی رحمة الله تعالی علیه.

۱۵- ابو الزناد عبدالله بن ذکوان فقیه المدینه رحمة الله تعالی علیه له انس بن مالك رضی الله تعالی عنه او ډیرو تابعینو څخه روایتونه کوی، امام ابوحنیفه رحمة الله تعالی علیه ویلی دی چی: ما ربیعه(رح) اوابوالزناد(رح) دواړه لیدلی دی مګر ابوالزناد(رح) ښه فقیه ؤ، سفیان (رح) به ابوالزناد(رح) په حدیثونوکی امیر المؤمنین باله په - ۱۳۱هـ کی وفات شوی دی رحمة الله تعالی علیه.

۱٦- یحیی بن سعید الانصاری رحمة الله تعالی علیه، له انس بن مالك رضی الله تعالی عنه او ډیروتابعینو څخه روایتونه کوی، یحیی القطان رحمة الله تعالی علیه وایی چی دی له زهری(رح) څخه په علم کی وړاندی دی، امام احمد بن حنبل رحمة الله تعالی علیه ویلی دی: یحیی بن سعید ترټولو خلکو په علم کی ثابت دی، په ۱٤۳هـ کی وفات شوی دی (رح) علیه.

۱۷- ربیعه بن عبدالرحمن فروخ رحمة الله تعالی علیه له انس بن مالك رضی الله تعالی عنه او ډیروتابعینو څخه روایتونه کوی، امام، حافظ، فقیه، مجتهد او په قیاس باندی ډیر ښه پوهیده نو ځکه په ربیعه الرأی مشهور دی، دی له سخیانونه شمیرل کیده، د امام مالك(رح) علیه استاذ ؤ، په ۱۳٦هـ کی وفات شوی دی.

په مکه مکرمه کی:

۱- عبدالله بن عباس رضی الله تعالی عنهما، له هجرت نه دوه کاله مخکی زیږیدلی دی، رسول الله صلی الله علیه واله وسلم دعا ورته کړی ده چی «یاالله! په دین کی سه پوهه ورکړی او دقرآن مجید تفسیر ورزده کړی» عبدالله بن مسعود(رض) ویلی دی: «د قرآن مجید بهترین ترجمان عبدالله (رض) بن عباس(رض) دی».

په تفسیر او فقه کی د مکی د ټولو علماوو منبع دی، په ٦۷هـ کال په طائف کی وفات شوی دی رضی الله تعالی عنه.

۲- مجاهدبن جبر د بنی مخزومو ازادکړی رحمة الله تعالی علیه له سعد بن ابی وقاص، ام المؤمنین عائیشی صدیقی، ابوهریره او ابن عباس رضی الله تعالی عنهم نه یی علم اخستی دی، له ابن عباس(رض) سره یی وخت تیر کړی دی قرآن مجید یی ورنه زده کړی دی، دعلم خزانه و، دی وایی ما دری واری ټول قرآن مجید ابن عباس(رض) ته تیر کړ په هر آیت به می پوښتنه ورڅخه کوله چی: دغه د څه په هکله نازل شوی دی؟ په ۱۰۳هـ کی وفات شوی دی رحمة الله تعالی علیه.

۳- عکرمه د ابن عباس(رض) ازاد کړی شاګرد رحمة الله تعالی علیه، له ده(رض)، له عائیشی صدیقی ابوهریره او نورو رضی الله تعالی عنهم څخه یی علم زده کړی دی، له سعید بن جبیر(رح) نه پوښتنه وشوه چی: له تاسه بل ښه عالم شته؟ هغه وویل هو! عکرمه، په ۱۰۷هـ کی وفات شوی.

٤- عطاء بن ابی رباح د قریشو ازادکړی رحمة الله علیه د عمر(رض) په خلافت کی زیږیدلی دی (رح) علیه له ام المؤمنین عائشی صدیقی، ابی هریره، ابن عباس او نورو رضی الله تعالی عنهم څخه یی علم زده کړی دی، له رنګه تور ؤ، ډیر فصیح او ډیر علم یی درلود، امام ابوحنیفه (رح) ویلی دی: ماله عطاته بهتر عالم نه دی لیدلی، ابن عباس(رض) به ویل: ای د مکی خلکو تاسی په ما باندی راغونډیږئ(!) او عطاء ستاسو په وړاندی دی، په ۱۱٤هـ کی وفات شوی دی.

۵- ابوالزبیر محمد بن مسلم بن تدرس د حکیم بن حزام ازاد کړی رحمة الله تعالی علیه له ابن عباس، ابن عمر، سعید بن جبیر او نورو رضی الله تعالی عنهم څخه د حدیثونو روایت کړی، یعلی بن عطاء(رح) وایی چی: ابوالزبیر(رح) موږ ته د حدیث روایت کاوه ترټولو ښه عقل او ښه حفظ یی درلود، عطاء(رح) وایی: جابر رضی الله تعالی عنه په حضور کی به موږ وو چی د اوبه وتلو او مذاکره به مو کوله نو ابوالزبیر(رح) به له موږ ټولونه حدیثونه ښه یاد کړی وو، په ۱۲۷هـ کی وفات شوی دی رحمة الله تعالی علیه.

# د افغانستان د دینی علماء کرامو پریکړی په وړاندی د مسلمانانو مکلفیت

حـــق جـــو

په افغانستان کی د جهاد دوخت ستونځی او کړاوونه خو لا پریږده دا اوس چی د روس فوځ له افغانستان څخه شرمیدلی وتلی دی نږدی څلور کاله وشول چی د مسلمان ملت زیری او مصیبتونه لا هغسی دی بلکی تر هغه خو چنده زیات دی داځکه چی د دښمنانو پټ او ښکاره پلیت لاسونه لګیا دی مسلمانان دی ته نه پریږدی چی په افغانستان کی د جهاد هدفونه، د شهیدانو کرامو ارمانونه، او د مسلمانانو هیلی ترسره کړی او د اسلام حکومت او نظام په پښو و دروی، زیاتی له سره سره چی له پیل څخه معزول دی نه شرعاً د امام نوم وروکول کیدای شی او نه هغه مقصدونه پکی شته چی په اسلامی نظام کی د امام په لاس ترسره کیږی بیاهم کلك په چوکی پوری نښتی دی او بیا نیلول شوی دی مسلمانان سره جنګوی، وژنی یی او برباد دی راولی، نه پریږدی چی د افغانستان مسلمانان د ستونځو د حل په لوری ګام واخلی، د جهاد رهبران ځینی بی سیکه دی، ددی خبری وس نه لری چی دملت په منځ کی ودریږی او مسلمانان د مقصد په لوری وخوځوی، حتی نور د ځانګړو هدفونو خاوندان دی خپل مقصدونه د ملت په کړاوونوکی لټوی او دستونځو په اوږد والی خوش دی، دا هغه څه دی چی نږدی یی د سر په سترګو وینی او اوس د هیچا شك نه دی پاته، نو ځکه د افغانستان خاص او عام مسلمانان دی نتیجی ته رسیدلی دی چی د افغانستان د طالبانو د اسلامی تحریك له ملاتړ نه پرته د حل بله لاره نشته او ځکه یی له پیل نه خپل کلك ملاتړ ورسره ساتلی دی او ساتی یی! د افغانستان خواص، علمای کرام او نور دیندار او پوه مسلمانان- لا پخوا دغی نتیجی ته رسیدلی ؤو چی دغه اسلامی تحریك د ړوی په لارښوونه منځ ته راغلی او د الله تعالی په فضل سره له ښمایی نه زیاتی برخی ته د خیر او برکت سبب شو!

خوشحالی چی د افغانستان د پاتی برخو مسلمانانو له سره اوږ مرکول هم د ټولو مسلمانانو فریضه ده او دغه کار هلته کیدای شی چی د طالبانو اسلامی تحریك ښه پسی تایید او تقویه شی او د افغانستان ټول مسلمانان یی په څنګ کی ودریږی نو ځکه د افغانستان تقریباً ټولو جیدو علماوو کرامو د رسول الله صلی الله علیه وسلم طالبانو د خرقی مبارکی په حضور کی دربانی معزولتیا یو ځل بیا اعلان کړه او په یوه خوله یی د اسلامی تحریك محترم امیر د افغانستان د مؤمنینو لپاره امیر وټاکه، پخپله یی هم بیعت ورسره وکړ او مسلمانانوته یی هم امر وکړ چی بیعت ورسره وکړی نو ځکه له هغی ورځی نه هره ورځ په زرګونو مسلمانان له داخل نه او د هجرت له وطنونو څخه ورته راځی او بیعتونه ورسره کوی.

اوس نو د هغو مسلمانانو مکلفیت چی بیعت یی نه دی ورسره کړی دادی چی ژر تر ژره مخامخ یا بالواسطه بیعت ورسره وکړی او دهغو مسلمانانو مکلفیت چی بیعت یی کړی دی هغه دی چی قرآن مجید ورته ټاکلی دی هلته چی په سورة الفتح کی په دی معنی فرمایی: وهغه خوك چی بیعت درسره کوی هغه له الله تعالی سره بیعت کوی یعنی ځان په الله تعالی خرڅوی چی بی مات کړی هغه یی د خپل ځان په ضرر ماتوی او څوك چی په هغه څه چی له الله تعالی سره یی تړون کړی دی وفا وکړی نو بیابه موږ: (الله تعالی) ورته لوی بدل ورکړو». د بیعت خبره خو د قدرت میناو ته چی کله د دوی په ګټه وی لوی سند دی خو بیا چی کله د اسلامی امت په ګټه او د دوی په تاوان وی نو بیا ملنډی او مسخری ورته سکاریږی- نعوذ بالله تعالی- قرآن مجید د بیعت خبره په هغومره اهتمام سره یادوی لکه جهاد او نور فرایض!

ای د افغانستان مسلمانانو په دومره لټی شمیر کی چی ستاسو جیدو علماوو کرامو دغه ګام واخیست او عملی بیعت یی وکړ نو تاسی ټولو د خپلو مقتدیانو او استاذانو په ګویا بیعت کړی دی او د بیعت ټولی غوښتنی اوس له تاسی نه اسلامی شریعت غواړی، هیڅ حیله او بهانه دلته نه چلیږی که د ربانی ډله او نور دهوا او هوس خاوندان سل رنګه حیلی او بهانی ورته جوړی کړی نو کیدای شی چی ځینی کسان و غولوی مګر له الله تعالی سره چل او دروغ نه چلیږی پام کوئ! چی له الله تعالی سره، او د هغه له شریعت سره چل او ټګی ونه کړئ چی - خدای دی نه کړی( دنیا او آخرت به مو برباد شی).

راشئ د خپلو مقتدیانو او استاذانو د خیر خواهی فیصلی ته لبیك ووایئ، ملاوتړئ او د طالبانو د اسلامی تحریك په لیکو کی ځان منظم کړئ تر څو په افغانستان کی د الله تعالی نظام حاکم کړی.

# په آزموینت کی یوبل آزموینت

عبدالحي (ذهري)

له کله نه چه په افغانستان کی د کمونیزم په خلاف علماء کرامو د جهاد فتوا ورکړه د آزموینت دوره پیل شوه، خاص او عامو خلکو له آزموینت نه د بریالی وتلو لپاره ملاوتړله په مبارزه یی لاسونه پوری کړل، هجرت، شهادت، بندی توب هر څه یی په ځان ومنل مګر یی دینی یی وه نه منله. مسلمانانو له خپلو پلرنیو ټاټوبو څخه په پریښودلو پیل وکړ، هر څه یی ځای پر ځای پریښودل، یوه یادوه پرستنی یی له ځانه سره واخیستی او د الله په لاره کی یی هجرت وکړ چا په یو جوړ جامو کی یی په کلونو کلونو د کفارو بندی خانی په ځان و منلی او ځینی خلکو د نوی ځوانی په وخت کی خپل ژوند داالله په لارکی قربانی کړ، او د شهادت جام یی وڅکل.

دا خلك ټول په خپل آزموینت کی بریالی شول. اوس به راشو د هجرت ژوند ته د هجرت په وخت کی چا په ټوپك جهاد شروع کړ، چاپه قلم چاپه ژبه او چاپه دغو ټولو. د ټولو هدف یو وو اوله بیلا بیلو ګوندونو سره یی ځانونه یو ځای کړل او د الحاد مقابله یی وکړه. خدای(ج) مرسته ورسره وکړه په خپل هدف کی یی کامیاب کړل. خو وروسته ځینی ضعیف النفسه خلکو اشتباه وکړه او په دی فکر کی شول چه دوی جهاد ددی لپاره کړی چی ځان قدرت ته ورسوی او په خلکو باندی واکداری وکړی خو کله چی قدرت ته ورسیدل نو یوازی دا چه واقعی مجاهدین یی د خپل قدرت په وخت کی تقدیر نکړل بلکی د جهاد اصلی هدف چی اسلامی حکومت جوړول وو هغه یی هم بالکل هیر کړ. پکار خو دا وه چه د شهیدانو او بندیانو په کورنیو یی ترحم او شفقت کړای وای، د زخمیانو او معیوبینو په زخمونو یی مرهم ایښی وای او دهغو ارمانونه یی پوره کړی وای او غازیانو ته یی د بهادری میډالونه ورکړی وای.

خو دوی شهیدان او بندیان هیر کړل په زخمیانو او معیوبینو یی سترګی پټی کړی او ارمانونه یی له خاورو سره خاوری کړل ددی پر ځای چه د شهید یتیمانوته دی ښوونی او روزنی پروګرام برابر کړی او د ژوند ارتیاوی یی پوره کړی، هغوی په جماتونو او هوټلونوکی سوال کولو ته مجبوره شول. ددی پر ځای چه د خلکو وران کورونه ودان کړی، دهیواد ویجاړ سړکونه بیا جوړکړی، نه یوازی دا چی جوړیی نکړل بلکی هغه چه جوړ وو هغه یی هم وران کړل ددی پر ځای چه دافغانستان اقتصاد بیرته په پښو ودروی د خلکو تجارتی مالونه بازارونو او مارکیټونوته په اسانی سره ورسوی، سهولتونه ورته برابرکړی هغو ته یی پاټکونه واچول لوټ یی کړل، بی عزته یی کړل اوله تجارت نه یی پشیمانه کړل. په خواشینی سره باید ووایو چی دغو مفسدو عناصرو د جهاد له مقدس نوم نه په استفادی سره داسی حرکتونه رامنځ ته کړل چی د جهاد او مجاهد نوم یی وشرماوه، هغو ددی پر ځای چه له خپل شعار سره سم د مشکلاتو د حل دپاره ملاوتړی، د بدبختیو په له منځه وړلوکی مرسته وکړی د اختلاف اور مړ کړی، له خائن سره محاسبه وکړی، برعکس د دوستانو په ځوړولو او د دښمنانو په خوشحالولو یی پیل وکړ. د افغانستان مظلوم ملت دغو ټولو ناخوالوته لاس تر زنی په سوچ کی وو چی کله به د ظلم او وحشت دغه ټغر تولیږی. د جهاد او مؤمن ملت دشمنان او خائنان به په سزا باندی رسول کیږی. هغه ووچی د طالبانو اسلامی تحریك د مدرسو له پاك چاپیریال څخه د فساد او خیانت په خلاف د جهاد میدان ته راووتل. دهرچا امیدونه یی بیابه ژوندی کړل. یتیمان یی په خندا کړل له دوی سره واو او اطمینان پیدا شو چه د دوی پلارونه چی د کفارو د مرمیو هدف ګرځیدلی وو او دځه په خاطر چی یی ځانونه قربانی کړی وو هغه ارمان به یی اوس طالبان ترسره کوی نو اوس یو ځل بیا دخدای(ج) آزمایښت پیل شوی دی. ددی وخت راغلی دی چی له ګوندونو څخه تیر شو د اسلامی جهاد او ګران افغانستان ګټی په نظر کی ونیسو، خوله بده مرغه یو شمیر قدرت طلبه انسانان اوس هم تنظیم ساتنه او پالنه غواړی په داسی حال کی چی د تنظیمونو دغه ترخی تجربی د دوی په وړاندی پرتی دی. تنظیمونو چی د جهاد په موده کی ښه کارونه کړی دی هغه د قدر وړ دی خو اوس ګوندی فعالیتونه د اختلاف باعث ګرځیدلی دی، مشکل نه شی حل کولی مګر د افغانستان مسلمان ملت له دوی نه د مشکل حل غواړی نو دوی باید د خپلو ګوندی او شخصی ګټو څخه اجتماعی ګټوته ترجیح ورکړی او د ملت له غوښتنی سره سم د طالبانو د اسلامی تحریك سره په پوره همکاری سره ملګری شی او دهغه په کامیابولوکی ورسره لویه ونډه واخلی. چی په دی توګه به وکولایشی له یوی خوا دوی خپلی مشروع ګټی ترلاسه کړی ■ هم آزموینت کی بریالی شی اوله بلی خوا د دښمنانو کرغیړنی دسیسی او توطئی شنډی کړی. د جهاد او مجاهدینو وقار او عزت په ځای او د شهیدانو ارمانونه دیوه واقعی اسلامی حکومت په جوړولو باندی ترسره کړی وران او ویجاړ وطن بیرته ودان کړی.

# د سیکولریزم خطرته پام کوی!

# په اسلامی نړۍ کی د ناسیونالیزم سرطانی جراثیم

مولوی عبدالحکیم «مجاهد»

نهمه برخه

### معاصر ایران

په ایران کی د ناسیونالیزم، سیکولریزم او اروپایی کلتور د ودی او ترویج د پاره د ملی او سیکولر ګوندونو په نسبت خپله د ایران پاچا رضاشاه پهلوی زیات کار وکړ، او ایران یی د اسلامی تعلیماتو، او اخلاقو نه په تجرد سره له ۱۹۲۵م څخه تر ۱۹٤۱ پوری په یوه اروپائی هیواد باندی بدل کړ. د ایران پاچا هم غوښت چی په ایران کی د اتاترك په شانی چټك جدی بدلونونه رامنځته کړی. خو ددی د پاره چی په افغانستان کی یی د امان الله خان په خلاف ددینی عالمانو، قومی مشرانو او عامو خلکو سخت غبرګون ولید، چی په نتیجه کی یی امان الله خان له قدرت څخه محروم شو او له هیواد څخه یی اروپایی هیوادونو ته تیښته وکړه، رضا شاه خپل سیکولر پروګرامونه نرم کړل او په خپلو عصری پروګرامونو کی یی له زیات احتیاط څخه کار واخیست او په تدریج سره یی په ټولنه کی پلی کړل. لکه څنګه چی د مصر واکدارانو خپل تاریخی افتخارات د اسلامی دوری په ځای د فرعونیانو له کفری دوری څخه را پیل کړل، همدا راز د ایران پاچا هم د خپل ځان انتساب سائرس ته وکړ او ددی د پاره یی یو تاریخی جشن جوړ کړ، چی په میلیاردونو تومان یی وریاندی مصرف کړل د اسلامی کلتور په ځای یی لرغونی ایرانی کلتور رواج کړه. ددی د پاره چی فارسی ژبه د عربی ژبی له اثراتو او اغیزو څخه پاکه کړی ادبی ټولنی یی را منځ ته کړی چی عربی الفاظ او اصطلاحات په پهلوی الفاظو او اصطلاحاتو باندی بدل کړی. د هیواد نوم یی له فارس څخه په ایران او د ژبی نوم یی له فارسی څخه په پهلوی بدل کړ.

ابوالحسن علی ندوی صاحب په خپل کتاب (اسلامی ممالك میں اسلامیت اور مغربیت کی کشمکش) نومی کتاب کی د رضا شاه پهلوی د بدلونونو او پروګرامونو په اړوند د یو امریکایی لیکوال «جورج لنکزاوسکی» د کتاب «The Middle East in World Affairs» څخه نقل کوی او لیکی: «رضا شاه په ۱۹۲۷ کال کی د فرانسی قانون او قضایی سیستم را منځ ته کړ... په هیواد کی د سیکولر کیدلو کار غوړګند وو... په دی هکله هغه له دینی عالمانو سره د مقابلی په ځای له سیاسی چلونو څخه کار واخیست، له دینی مشرانو سره یی د مبارزی په ځای د هغوی نظر اندازی کول مناسب وګڼل..

په ۱۹۳۰ کال کی یی په لومړنیو او ثانوی ښوونځیو کی ددینی تعلیماتو زده کړه غیر لازمی کړه، او په تعلیمی نصاب کی یی د وطن پرستی او حب الوطنی په احساساتو باندی زیات زور واچاوه. لویو ته یی وده ورکړه، په لویو ښارونو کی ئی عصری ستدیونه جوړ کړل. د هلکانو څارندویانو او نجونو څارندویانو په تنظیمونو کی یی د نجونو او هلکانو ګډون لازمی کړ. څو چی په نوی نسل کی د ملت پالنی یا قوم پرستی روحیه بیداره کړي. په دی توګه دغو فعالیتونو نجونی او ځوانان له دینی مصروفیتونو او مفکورو څخه لری کړل.

په ۱۹۲۸م کی یی په مشرقی لباس باندی په بندیز لګولو سره دینی نفوذ او اغیزو ته سخته ضربه ورکړه. د ترکی خولی او پګړی په ځای یی لومړی پهلوی خولی او بیا انګیریزی خولی په سر کول را مینځ ته کړ. د ښځو د آزادی د پاره پاچا وول وول طریقی په کار واچولی. دده پر اشاره، ولسی جرګی د نر له خوا د طلاق ورکولو صلاحیتونه محدود کړل، ښځو ته په دفترونو کی د کار کولو آزادی ورکړل شوه. که څه هم په سیاسی مراسمو کی دوی ته د نمایندګی کولو واك لا تر اوسه نه وو، خو فوځی او ملکی مامورینو ته ویل شوی وو چی ښځی دی اروپایی لباس اغوستلو ته تشویق کړی، په ۱۹۳۵م کال کی خپله ملکی او شهزادګیو په یوه عام محفل کی په داسی بڼه ګډون وکړ چی اروپایی لباس یی په تن وو، له همدی ورځی څخه د برقع په اغوستلو باندی بندیز ولګیده، ددی په خلاف څه مقاومت وشو خو د حکومت اداری انتظام سخت وو او بالاخره ټولو قانون ته غاړه کیښوده،

د پاچا له خوا په ژبه باندی د بیا کتنی کار پیل شو، خو فارسی له عربی اثراتو څخه پاکه کړی. چی دا کار د ایران د هغی ادبی ټولنی (Academy of Litra-ture) له خوا تر سره کیدل چی په ۱۹۳۵م کال کی یی تأسیس کړی وه، سره له دی چی عربی لیك دود د فارسی ژبی ټولی ارتباوی نشوای پوره کولای، د ترکیی په شانی یی لیك دود بیخی بدل نکړ.

### د ایران اسلامی انقلاب

په ایران کی هم د افغانستان په شانی ددینی عالمانو اثر او نفوذ ډیر زیات وو، د لویدیځ د سیکولر پروګرامونو په خلاف ددینی عالمانو مبارزه روانه وه، په سیاسی لحاظ یی په ملت کی د ننه خپلی فکری او نظریاتی ریښی غزولی وی، که څه هم د ایران پاچا هیواد ته ډیر زیات کار کړی او ایران یی په فوځی لحاظ دومره مضبوط کړی وو چی په سیمه کی یی د یو قاطع او برلاسی ځواك په توګه حیثیت درلود، هیواد دپرمختګ په حال کی وو په سیاسی تمدنی او تعلیمی لحاظ ایران له ډیرو هیوادونو څخه مخکی وو، په بین المللی ټولنه کی د ایران رول د ښه اعتبار لرونکی وو، په اقتصادی میدان کی ایران د وروسته پاتی هیوادونو د کتار څخه وتلی وو خلکو یی ښه آرام او هوسا ژوند درلود.

خو له دی ټولو مادی خدمتونو سره سره د ایران مسلمان خلك له پاچا څخه ددی د پاره خفه وو چی هغه اسلامی عقاید، اخلاق او نظریات تر پښو لاندی کړل د خلکو په دینی او ملی کلتور باندی یی حملی وکړی، په ذهنی لحاظ یی ملت د اروپا غلامی ته مجبور کړی وو، عامو خلکو ددینی عالمانو په لارښوونه او قیادت دده په خلاف پاڅون وکړ څو ځانونه له غربی سیکولر کلتورڅخه خلاص کړی او په ځای یی یو اسلامی دولت را مینځ ته کړی.

په دی لاره کی د ایران مسلمانانو خلکو ډیری زیاتی قربانی ورکړی. په زرګونو مسلمانانو د آیة الله خمینی تر مشری لاندی ددینی عالمانو په غورځنګ کی د ایران د پاچا د سیکولر نظام او کلتور په خلاف رهبری کیده، ځانونه شهیدان کړل، او په دی توګه یی پاچا له هیواد څخه په تیښته باندی مجبور کړ، او په ۱۹۷۹م (۱۳۵۸) کال د اپریل د میاشتی په لومړی نیټه یی د ایران د اسلامی جمهوریت اعلان وکړ.

ابو الحسن علی ندوی صاحب د خپل کتاب «اسلامی دنیا میں اسلامیت اور مغربیت کی کشمکش» په ۱۹۲ مخ کی لیکی: « د آیة الله خمینی په جبرانوونکی بریالیتوب باندی خلك ډیرور تبصری کوی. په ابتداء کی دغه پاڅون ته چی (LEFTEST) انقلاب ویل کیدل، او پاچا هم په همدغه نوم باندی د هغه د ځپلو هڅی وکړی. خو د انقلاب نه وروسته چی د قدرت آزمویلو کار پیل شو، اسلامی عنصر چی مشری یی د دینی عالمانو په لاس کی وه په نورو باندی غالبه شو، له دی نه دا اټکل کیدای شی چی ددغه پاڅون تر شا پراخه اسلامی عنصر یا عامل موجود وو. د انقلاب د کامیابی سببونه او عوامل د ایرانی دینی عالمانو سیاسی شعور، تنظیمی قوت، په عوامو باندی ددوی(۳مخ)

# خدمات دینی واجتماعی علماء در تاریخ معاصر کشور

## نخستین جنبش فکری «سراج الاخبار»

قسمت اول

قلعه، جوادی

هیچ مقطع از تاریخ اسلامی کشور را یافته نمیتوانیم که در آن وجود و اثر علماء و مشایخ دینی به شکلی از اشکال محسوس نباشد، اغراق و مبالغه درمیان نخواهد بود اگر بگویم که وجود علماء با وجود اسلام و تاریخ علماء با تاریخ اسلام توأم بوده و از بدؤ امر و آغاز دعوت اسلامی والی یومنا هذا والی ماشاء الله ثم به ثم علماء با درنظر داشت ظروف اجتماعی و فکری و ایجابات سالم هر عصر و زمان قدمهای مثبت و مؤثری در راه تبلیغ، دعوت و حفظ حاکمیت اسلام و رشد و ترقی مادی و معنوی ملت اسلام گذاشته اند و در این راه از هیچ نوع ایثار و فداکاری دریغ نورزیده اند.ما در این سطور چند اشاره خواهیم داشت به خدمت فرهنگی، سیاسی و جهادی علماء و مشائخ در تاریخ معاصر کشور، که بطور عموم این دوره، سانحهٔ آفرین ترین دوران تاریخ برای جهان اسلام پنداشته میشود، و در مقابل خواهیم دید که روشن فکران افغانی آن دوران که اکثر از جو سیاسی و اجتماعی حاکم بر جهان آنروز که متکی بر اساسات سیکولریستی بود متأثر بودند چگونه تدریجاً سلسله آن خدمت حسنه، اسلامی و ملی را که از مسجد و مدرسه به رهبری ملا و روحانی به میان آمده بود تا جواب گوی ایجابات وظروف اجتماعی و سیاسی آن دوران شود به انحراف کشیدند و رفته رفته آن انحراف به بدترین شکلی حرکت سیکولریستی (الحادی کمونیستی) مبدل شد و کشور را به فاجعه، دردناك مواجه گردانید که تاحال ملت مسلمان ما در آتش آن میسوزد، آن حرکت، جنبش فکری و فرهنگی (سراج الاخبار) بود که آغازی برای حرکت متشکل سیاسی (تحریك مشروطیت) در کشور شد. در آن دوران دنیای اسلام که سخت دست خوش حوادث طوفانی و حملات نظریات سیکولریزم صلیبی بودند و در مقابل آن توطئه ها و حملات فکری و نظریاتی غرب امت اسلامی که در میدانهای مقابله و جنگ گرم همیش پیروز بدر آمده بودند به همچون شکست مفتضحانه و شدیدی مواجه شدند که دیگر نتوانستند آن شکستها را جبیره نموده و آنچه در این معرکه، حق و باطل درمقابل باطل از دست داده بودند بدست آرند.

علماء دینی کشور ما به آن خطر و تهدید کم و بیش متوجه بودند و آنچه در راه جلوگیری از آن از قلم و قدم در اختیار داشتند بقدر وسع بکار گرفتند و در اثر آن سعی بلیغ اوشان کشور ما همچون سایر بلدان اسلامی دست خوش همه جانبه، اهداف الحادی سیکولریستی در آن دم نگردید و تا این دم روحیه و تشخص اسلامی خود را حفظ کرد.

تحولات و دگرگونیهای سیاسی و علمی قرن ۱۹ و ۲۰ اروپا که بر مبنای جدائی دین از سیاست و امور اجتماعی در شکل ورنگ حکومتهای قومی بعد از برخورد های شدید و فاجعه انگیز میان کلیسا و روشنفکران و روشنفکران غربي و قیصرها به میان آمد سبب گردید که حکومتهای قیصری و دیکتاتوری جای خود را به نظامهای دارای قانون و اساس جمهوری و دیموکراسی خالی نماید، و مردم در تعین سرنوشت و مقدرات سیاسی خود دخیل شوند و ترقیهای صنعتی و تخنیکی اروپا روز بروز رشد محیر العقول نموده به جهانیان ذهنیت تازه ای میبخشیدبر استعمار و استثمار سائر قاره ها هم منجر گردید.

اثر این تحول و دیگرگونی سیاسی، اجتماعی محدود و محصور به اروپا نماند بلکه در اسرع وقت همه، جهان را به خود پیچید که جهان اسلام هم از آن مستثنی نبود.و افغانستان با داشتن موقعیت خاص استراتیژیك نظامی و اقتصادی خود که در طول تاریخ مطمح نظر اجانب بوده و هیچ استعماری در منطقه و جهان نگذشته است که چشم به افغانستان ندوخته باشد و اشتهای هضم آنرا در کله نپرورانیده باشد و یا در فکر لشر کشی و اعمال نفوذ مستقیم و غیر مستقیم بر آن نگردیده باشد.

در این مرحله از تغییر و تحول سیاسی، اجتماعی قرن ۱۹ و ۲۰ که مسیر تاریخ اسلام را دیگر گون کرد، افغانستان نمیتوانست که از آن کنار ماند و آن تحولات جهانی تأثیر بر مردم افغانستان که همیش از استبداد رژیمهای خودکامه و عیاش رنج برده بودند نداشته باشد.

جنبش فکری (سراج الاخبار) با داشتن هدف اسلامی و ملی که در نتیجه، کار، آغازی برای یك حرکت متشکل سیاسی (مشروطیت) شد، جوابی بود که به اقتضاء سیاسی و اجتماعی آن عصر و زمان و قدمی بود غرض به میان آوردن یك نظام قانونی اسلامی و ترقی و تعالی مادی و معنوی کشور که متأسفانه به خیانت روشنفکران منحرف مواجه شده و تغییر مسیر داد. چگونگی آغاز آن جنبش فکری و سیاسی را عبدالحی(حبیبی) در کتاب خود (جنبش مشروطیت) چنین بیان میدارد: ازروی اسنادی که در خانواده، نویسنده، این سطور بوده و اکنون در آرشیف ملی در دوسیه خاص سراج الاخبار محفوظ است ثابت می شود که جمعی از روشنفکران و دانشمندان مملکت، مربوط مدرسه شاهی (درسگاه علوم دینی در مسجد چوب فروشی کابل) و دارالعلوم حبیبیه (لیسه، کنونی حبیبیه که در سنه ۱۹۰۳م - ۱۳۲۱ق افتتاح شده بود) به دربار امیر حبیب الله خان پیشنهاد نمودند، که انجمنی از دانشمندان افغانی به وجود آید، تا یك جریده، پانزده روزه را به نام سراج الاخبار افغانستان درکابل نشر نمایند.

رئیس این انجمن مولوی عبدالرؤف خان قندهاری متخلص به «خاکی» سرمدرس مدرسه، شاهی و ملای حضور بود و مولوی محمد سرور«واصف» پسر مولوی احمد جان الکوزایی متخلص به «تاجر» سمت محرر(منشی) این انجمن را داشت و هدف عالی این روشنفکران همانا بیدار ساختن مردم و آشنایی آنها با مدنیت جدید و وقایع تازه، دنیا بود.

انجمن سراج الاخبار پیشنهادی به امیر وقت حبیب الله خان تقدیم کرده اند که در دوسیه، مذکور موجود است. زیر هر فقره، هدایات شاهی به قلم سردار عبدالقدوس خان اعتمادالدوله نوشته و امضاء شده است (تحریر ۲۵ صفر ۱۳۲۳ هـ.ق- ۱۹۰۵م).

مطابق این دوسیه، اعضای انجمن سراج الاخبار عبارت بودند از:

۱- ایدیتر یعنی عنوانگذار: مولوی عبدالرؤف خان.
۲- سب ایدیتر یعنی نایب عنوانگذار: مولوی نجف علی خان.
۳- محرر زیر دست ایدیتران: مولوی محمد سرورخان پسر مولوی احمدجان الکوزایی مرحوم.
٤- ترجمان زبان ترکی: حاجی باشی غلام نقشبندخان.
٥- مهتمم و مترجم اخبار اردو: منشی حافظ حیدرعلی خان.
٦- معاونان ترجمه، اخبار اردو:عبدالرحمن بیگ و عبدالرحیم بیگ.
۷- کاتبان خوشنویس: میرزاغلام قادر خان و میرزا محمداسحاق خان.
۸- مصحح: قاری نیك محمد.

انجمن سراج الاخبار، که اعضای رسمی آن در دوسیه، مذکور معرفی شده اند، همکاران و همفکرانی در خارج انجمن هم داشتند و در یادداشتی از دربار به نظرم رسیده که مرحوم محمود طرزی هم در آن وقت ازشام واپس به وطن عودت نموده و سفارش شده بود، که از او هم در امور صحافت و مضامین جریده رأی بخواهند. (قابل تذکر است که همین شخص اخیر الذکر (طرزی) در منحرف کردن این تحریك از اهداف سالم و صحیح اسلامی و ملی آن رول عمده را بازی کرد نویسنده، مضمون).

قراری که دیده می شود، سند منظور انجمن در ۲۵ صفر ۱۳۲۳ق امضاء شده ولی مدت هشت ماه بعد شماره، اولین سراج الاخبار افغانستان، به تاریخ ۱۵ ذیعقده ۱۳۲۳ق، ۱۱ جنوری ۱۹۰٦م با قطع وقل سکیپ» در ۳٦ صفحه چاپ سنگی به خط نیکوی دوتن از نستعلیق نویسان مذکور نشر شده که یك شماره، نمونه، آن در اسناد خاندانی نویسنده، این سطور بوده و اکنون در آرشیف ملی کابل محفوظ است.

عناوین مهم این شماره، نخستین سراج الاخباراین است: سرمقاله، مولوی عبدالرؤف خان به عنوان یك خطابه، تمهید و موعظه، حسنه سیاسیه وبعد ازآن ملخص احوال جنگ جاپانی وروسی،حوادث مملکت روم(عثمانی) و مصر و روس و عبرت ناظرین با حوادث مملکت انگلیس و ممالك متفرقه است. درآخر حوادث مملکت افغانستان ویك قصیده، وعظیه، فصیح ازطبع مولوی محمدسرورخان قندهاری متخلص به «واصف» و اعتذار مدیر آمده است. باچنین چهره وسیما شماره، نخستین سراج الاخبار، درتحت کنترول شدید حکومت مستبد وقت نشر شد، ولی طوری که گفتند:دولت مستعجل بود» وخوش درخشید،ولی دولت مستعجل بود»

از سرمقاله، مولوی عبدالرؤف و قصیده، مولوی واصف- که در این شماره نشر گردیده- پدیدار است که در آن هنگام آثار بیداری و تجدد مدنیت اروپا به کابل رسیده و مردم و در بار را در تحت تأثیر قرار داده بود، و هم این مطلع فکر جدید در ادبیات معاصر ما است، که درقصیده، مولوی واصف به خوبی دیده می شود. زیرا وی توجه امیر را به ترقیات و پیشرفتهای جهان معطوف داشته است.

# روسی پیلوټان په کندهار کی

ابوالعطاء

دیر وخت وشو چې د طالبانو اسلامی تحریك په کندهار کی هغه روسی الوتکه او د هغې پیلوټان له ځان سره ایسار کړی دی چې د ربانی اداری ته یې په غلابانډی وسله او مهمات لیږدول تر څو د افغانستان مسلمانان پری ووژنی او خپله تش په نوم واکداری اوږده کړی.په دی کی د طالبانو د اسلامی تحریك یو مقصد خو داوچی نړۍ والوته ثابته کړی چې د ربانی اداره د افغانستان د مسلمان ملت په مټو او تایید ولاړه نه ده بلکی دښمنانو د افغانستان له مسلمان ملت څخه د خپلی رسوا ماتی د غچ اخستلو لپاره په پښو اودرولی ده تر څو د افغانستان مجاهد ملت د اسلامی نظام او سوکاله ژوند خاوند نه شی.

بل داغرض وو چې د افغانستان په زرګونو علماء، مشائخ کرام او مجاهد مسلمانان چې روسانو د خپلو مشاورینو، سرورینو، ګلاب زویانو، وطنجارانو او نورو ملحدو مزدورانو په لاس د قوزی تیری په وخت کی تری تم کړی دی دهغوی پوښتنه وشی.

په ربانی کی چې د افغانستان د مشری کفایت او سبك نشته نو ځکه شرعاً معزول دی، ددی خبری څه غم ورسره نه وه چې په زرګونو عزتمن او درانه افغانان ولی اوچا تری تم کړل؟ بلکی هغه د روسانو خوشحالی غواړی،دهغوی مزدوری کوی، د روسی پیلوټانو اوالوتکی په ایسارولو خپه دی او په خواتر هغه چې هرات د طالبانو په ورتګ بختور شی له هغی خوانه یې خپل کسان وهڅول چې مخ په کندهار د ایسار شوو پیلوټانو د خلاصون په تکل هغه نیمه خوا او ناکامی هلی ځلی وکړی چې په نتیجه کی یې هرات هم بایلود.

پاته شوه د روس او یلتسین خبره؛ هغه اوس هم پخوانی خوبونه وینی، کله د زور خبره هم کوی او غواړی چې خپل پیلوټان خلاص کړی، د تری تم شوو افغانانو خبره یاییږه تیروی او وایی چې افغانی بندیان په روسیه کی نشته.

د طالبانو اسلامی تحریك په ټولو مراجعاتوکی چې روسانو ورته کړی دی دا خبره یې په زغرده ورته کړی ده چې څنګه کیدای شي چې اوورکسه روسی پیلوټان دی خوشی کړای شی او په زرهاوو نخبه رجال او شریف افغانان دی تری تم وی؟ نه دی یې ژوند معلوم وی، او نه قبر، او دا څنګه کیدای شي چې هغه روسی مشاورین چې دغسی بشری جنایات یې کړی دی او د هغوی افغانی چوپړیان دی یې غمه په مسکو کی خپلی چرچی کوی او ددی پوښتنه دی نه ورڅخه کیږی چې په زرګونو نومیالی افغانان مو څه کړل؟ آیا په هغوی باندی د یلتسین وس نه رسیږی چې معلومات ورته واخلی او که هغه نه وی نو بیا خو دی هغه جنایت کاران د خپلو پیلوټانو په بدل کی د طالبانو اسلامی تحریك ته وسپاری، او دغه کاریوازینی او د دی روسټنی چاره او علاج دی. نوری خبری بی مفهومه او بی ځایه هلی ځلی دی، یلتسین دی خپله غوښه کش کړی نو دبل چا د غوښی خوږیدل به ورته جوت شی.

او نور دی له ربانی څخه خپل پیلوټان وغواړی ځکه چې دده په خبره خو ربانی دافغانستان جمهور رئیس دی او همدغه جمهور رئیس(!) ته دغو پیلوټانو وسله او مهمات لیږدول. که رښتیا جمهور رئیس وی نوبیاولی په طالبانو پسی ننواتی ګرزوی؟ اوکه نه وی - لکه چې نه دی- نو بیابی ولی خوشی په دبه کی تیږی اچولی دی او ګرځوی یې؟

# د ادب ملغلری

کار په تش لستونی نه کیږی بی لاسه
لاس په توره کړه بی لاسه آستین مه شه
هغه زړه به له طوفانه په امان وی
چه کشتی غوندې دخلکو باربردارشی
عبدالرحمن بابا

## لــوی اختــر

ملا ذر محمد «گوهری»

راځه راځه دقربانی اختره! — د امتحان او د سیالی اختره!
تا په ځولی کی موږ ته څه راوړی؟ — په موږ پیرزو کړه خوشحالی اختره!
زموږ له خوا تنکی ځوانان ومنه — په قربانی کی زموږ ځان ومنه
په قربانی کی د څارویو په ځای — زموږه وروڼه او دوستان ومنه
نوره نړۍ کی د څارویو ذبحه — افغانستان کي د زلمیو ذبحه
د مؤمنانو افغانانو له خوا — ومنه، واخله د بچیو ذبحه
د ابراهیم خلیل الله په خاطر — د اسماعیل ذبیح الله په خاطر
د شهیدانو په قبرونو راشه — د بورو میندو د زړا په خاطر
په نیمه شپه کی فریادونه واوره — دلته ساړه ساړه آهونه واوره
د یی اسری یتیم سلګی،دي دلته — په اسویلو کی یی رازونه واوره
راشه اختره! کنډوالو ته راشه — اوس دباغو په ځای هیرونه راشه
افغانستان نه قبرستان جوړ شوی — دی غم ځپلو جګو غرونه راشه
خړو درو کی شهیدان وګوره — قدم په وروږ ده یتیمان وګوره
لرغونی اونیکو پاکیدو نه ستون شه — دا نازولی ماشومان وګوره
پام کوه، ورورځه طالبان دی دلته — وروسره تم شه ستادوستان دی دلته
د دوی بی دریغه قربانی، وګوره — ددین دشمعی پتنګان دی دلته
چی هیردی نشي دهجرت ملګونه — په پاکستان کی تیت پرك کمپونه
هری کیږدی،هری خیمی ته ورشه — لږخني وپوښته د زړه رازونه
اختره! موږ به په میلو لمانځلی — په اتڼونو به زلمو لمانځلی
چابه پسونه، چاغوایی حلال کړل — هرچا به ته په خوشحالو لمانځلی
نن چی خپه نشی ځوانان نشته دی — چی دی لیدل هغه یاران نشته
که خندا نشته په ژړا دی لمانځو — د پرشهیدان شول طالبان نشته
ګوهریاخدای به خوشحالي راولی — خدای به اختردسوکالی راولی
هره تیاره پسی رڼا رادرومی — خدای به دوران دخپلواکی راولی

## څه د ظلم پیلامه وه

ملااسد الله «حنیفی»

دا د ثورکودتا وه، که دوهمه کربلا وه
جمجه مست ؤك و له ویښو، څه د ظلم انتها وه
داسمان لمني سري وی، څه د غم تاری سوری وی
هرسری وینو کښي رنګ و، وحشتونو نظاری وی
دا د ثور فاجعه وه، خومره ستره سانحه وه
ازادي تاروې یی مره کړه څه د ظلم پیلامه وه
سری ګولی رااوریدلی هر خوا وینی بهیدلی
په کابل کښي جورماتم وو، بوري میندی ژړیدلی
توری وریځی راخوري شوي، ارزوګانی هیلی مړی شوي
خوشالیو کوی وکړی، د غم ویری بستري شوي
دنګو دنګو غرو سرو کښي، دیهمان شګلو تیر کیښي
بلبلان په غم اخته شول، هنلوکش په ګړنګو کیښی
خزان توی کړله ګلونه، نیمه خوا شول امیدونه
نن نه تولی کاله ویرالدی، تاراك وځپله زړونه
دا د ثور کودتا وه، چلستون کیښی دیر ژړا وه
ازادي توتي بندی شو، د بلبلو واویلا وه
را خپری توری تیاری شوي، ځپلواکیو دیوی مړې شوي
خشبقي خونه شوه ورانه، په وطن بی زلزلی شوي

(مولانا الشیخ غلام النشیره چلاسی ره)

اگر دنیا ندارم هیچ غم نیست
غم دلبر چو اندر قلب کم نیست
قلم دارم ندارم ملك جم را
قلم هروقت هست وملك جم نیست
عدو را زور گر بسیار باشد
چه غم دارم چو یارم یار باشد
یقین دانم گر او بر من نظر داشت
گل نرگس مراهر خار باشد
بهر راهی بگوید حسبنا الله
باید آسان شود هر سخت تر راه
بگرداند خدایش چاه یوسف
اگر دشمن کند در راه او چاه
بر است از شوق جنت تابه بینی
بروز جنگ پشت او نه بینی
لی خواهد که پیش از وی بمیرد
یکی تن از همه اخوان دینی

## گران افغانستان

(نور الحق حامد)

ځما وطن افغانستانه
تاته دی هردم ځما سلام
لوګی لوګی شمه له تاته
ای زموږه ګران افغانستانه
په تا کښی وخت د آزادی تیروم
جنګرنه لاړل خوشحالی تیروم
ښکلی وطنه په ماګرانه
تاته دی هردم ځما سلام
ځاردی له لوړو لوړو غرونه شمه
ستا د چمن له رنګینونه شمه
ساتم به تازه له طوفانه
تاته دی هر دم ځما سلام
په تاکښی ښکلی ننګیالی اوسیږی
لکه خالد غوندی زمری اوسیږی
کابل به نیسم له برهان نه
تاته دی هردم ځما سلام
فخرزه تل په عالمانو کوم
په خپل قائد او هم مشرانو کوم
په تاسو ډیر ستری ستومانه
تاته دی هردم ځما سلام
په وینو جوړ د شهیدانو شولی
هم په دعاء د یتیمانو شولی
په موږه ګرانه قدر دانه
تاته دی هردم ځما سلام
زه نورالحق ښکلی اشعار جوړوم
هم خپل هیوادیه په سینګار جوړوم
خدایه کامیاب کړی طالبان
تاته دی هردم ځما سلام

# لوی اختر مسلمانانو ته د اسلامی وحدت او قربانی درس ورکوی

(ابو عبدالعلیم)

له دی امله چې اسلام د الله تعالی هغه نړیوال بشپړ الهی نظام دی چې د ژوندانه په ټولو برخو کی بشری ټولنی ته لارښوونی کوی او د اسلامی ژوندانه اساسی اصول ورکوی. د اسلامی نړۍ د پاره یې د عنعنوی اخترونو او جشنونو په بدل کی دوروکی اختر او لوی اختر مبارکی ورځی ټاکلی دی چې د نړۍ مسلمانان په دغو ورځو کی په عبادت او بندګی بر سیره خپلی خوشحالی او خوښی څرګندوی.

د لوی اختر د ورځی یو مهم امتیاز دادی چې د نړۍ له ګوټ ګوټ څخه مسلمانان په داسی حال کی په مکه مکرمه کی راټولیږی چې د پاچا او یو عادی مسلمان تر مینځ څه توپیرنه لیدل کیږی دواړه دالله (جل جلاله) په حضور کی په داسی حال کی د طواف، سعی او عرفات په میدان کی لیدل کیږی چې یو ځادر او یو لنګ یی په تن باندی وی، د دنیا ټول مادی نعمتونه چې دیو چا د امتیاز نمونه ګرځی له هغوی څخه د الله تعالی په حکم لری کیږی او د اسلامی مساوات په اساس عملاً په یو شانی لباس په یو ځای کی په یو شانی عبادت او په یو شانی مناسکو باندی، مامور ګرځی. د حج په دغه مبارکه ټولنه کی په اصولی لحاظ نه یواځی داچې د اسلامی نړۍ له هر ګوټ څخه باید د هری طبقی خلك راټول شی او د اسلامی امت په مشکلاتو باندی ځانونه خبر کړی او دهغوی د حل دپاره لاری چاری ولټوی، د مسلمانانو د خوشحالی او نیکمرغی د پاره پلانونه او پروګرامونه تیار کړی، خپل دوست او دښمن وپیژنی، د برأت او وحدت فیصلی مینځ ته راشی بلکی په معنوی لحاظ ټوله اسلامی نړۍ باید دیو الله په وړاندی د عبادت کولو سرونه ټیټ کړی د حج ټول مناسك په انتهایی عجز انکسار، اخلاص او صداقت سره پایته ورسوی، دلوی خدای(جل جلاله) په دربارکی په ژړا،خضوع او عاجزی سره لومړی دځان په هکله او بیا دټولی اسلامی نړۍ او نور بشریت په باره کی له اخلاص څخه ډکی دعاګانی وکړی، په تیرو ګناهونو باندی توبه وباسی او په راتلونکی کی له الله تعالی سره تعهد وکړی چې د الله نیك او مخلص بنده او د اسلامی ټولنی فعال، مخلص غړی او کارکوونکی به جوړیږی. خپل ژوند به د اسلامی ټولنی د هوسایی او نیکمرغی لپاره وقف کوی. د اسلامی نظام د جوړولو دپاره به په خپل ټول توان سره هلی ځلی کوی. لکه څنګه چې یو انسان د عبادت په برخه کی دیوه الله په عبادت باندی مسئول دی همدا راز د حکم او حاکمیت په هکله هم یو مسلمان په دی باندی مسئول دی چې حاکمیت به یواځی د الله تعالی منی نه د بل چا.

په قرآن کریم کی لوی خدای(ج) همدغه دوه کلمی د نفی او اثبات تر مینځ ذکر کړی دی چې حصر او قصر افاده کوی په سورت محمد کی فرمایی. «فاعلم انه لا إله إلاالله» (له الله نه پرته هیڅوك د عبادت ورنه دی). او په سورت یوسف کی فرمایی: «ان الحکم إلالله» (حکم په یواځی د الله(ج) وی). نو ځکه ټول مسلمانان په تیره بیا هغه مسلمانان چې د حج په موقع په بیت الله شریف، عرفات او نورو مقدسو مقاماتو او ځایونوکی چې د الله د رضاء په تیروګناهونو باندی دپښیمانی، او په آینده کی دیو صادق، مخلص او متعهد مسلمان د جوړیدلو په نیت را ټولیږی، له الله تعالی سره باید دا تعهد وکړی چې عبادت به یواځی د الله(ج) کوی او حاکمیت به یواځی د الله تعالی منی بل هر ډول حکومت، مذهب، فلسفی او ایزمونو به مخالفت کوی هغه که سیکولریزم وی، یا ناسیونالیزم، سوسیالیزم وی یا کمونیزم، غربی دیموکراسی وي او یا شرقی فاشستی وی.

د حج په دغه مبارکه اجتماع کی یو مهم عنصر د ابراهیم علیه السلام د قربانی سنت ژوندی کیدل دی چې هغه مبارك د الله تعالی د رضاء په خاطر د خپل زوی اسمعیل علیه السلام قربانی ته حاضریږی او الله تعالی دهغه په ځای د جنت نه پسه دملائکو په توسط لیږی څوبی د اسمعیل علیه السلام په ځای قربانی کړی او په دی توګه دغه مبارك سنت نن د څارووو د قربانی په شکل کی ټولی اسلامی نړۍ ته پاتی شوی دی، چې مسلمانانو ته د الله تعالی په لباره کی د هر ډول قربانیو ورکولو ستر درس ورکوی. او دا ورته ښیی چې دنړۍ مسلمانان باید له باطل سره د ټکر دپاره د تل دپاره تیار او آماده واوسی، د ضرورت په وخت کی د ابراهیم علیه السلام او اسمعیل علیه السلام په شانی خپل ځانونه د الله په لاره کی قربانی کړی، ټول نمرودی او فرعونی انسانی نظامونه دړی وړی کړی او په ځای یی دالله تعالی حاکمیت د اسلامی نظام، اسلامی خلافت او اسلامی دولت په شکل کی عملی کړی، او اسلامی ټولنه د انسان له حاکمیت څخه خلاصه کړی، د الله عبادت ته یی راوبولی.

په دی توګه لوی اختر مسلمانانوته د اسلامی وحدت او قربانی درس ورکوی، د طاغوتی قوتونو په خلاف د جهاد او مبارزی لارښوونه کوی په صفونوکی د طبقاتو: د بډایه او مسکین، حاکم او محکوم تور او سپین، پاچا او فقیر تر مینځ د مساوات تعلیم ورکوی.

## په اسلامی نړۍ کی...

تسلط او کنترول داسی اسباب او عوامل دی چې یو څوك یی نظر اندازه کولی نشی. له دی سره سره د عوامو هغه اطاعت او پیروښون چې (له خپلو علماوو سره یی لرل) او هغه یی ساری قربانی چې په دی لاره کی یی ددینی جذبی په اساس ورکړی، مثال او ساری نلری.

د خمینی د سیاسی نظریاتو په هکله د هغه د «اسلامی حکومت» ترمی کتاب څخه اقتباس کوی او لیکی «د امپریالیزم یا استعمار کوشش دا دی چې موږ دی لمونځونه کوو او روژې و نیسو، څومره چې ژوند کی د اسلام یواځی په عبادتونو کی محدود وی. څو چې له دوی سره څمونږ سیاسی ټکر را نشی. استعمار موږ ته دعوت راکوی چې موږ د سهار او ماښام لمونځو نه کوو، څو څمونږ تیل دی ددوی په ولکه کی وی، څمونږ د لمونځونو څخه ددوی د پاره هیڅ خطر نشته، چې څمونږ بازارونه ددوی د مال د پاره، څمونږ سرمایه ددوی د سوداګرو او ددوی د مصنوعاتو د پاره وقف وی. ځکه حمله کوونکو خپل قوانین خپل د ژوندانه نظامونه په موږ باندی تحمیل کړی دی. په موږ باندی یی دا منلی دی چې اسلام د ژوندانه د پاره د عمل وړ نظام نه دی، څمونږ ټولنه نشی اصلاح کولی، حکومت نشی اداره کولی اسلام ددوی په وړاندی یواځی د حیض د مسئلو، د میره او میرمنی د نکاح ترلو او څو نورو داسی احکامو لوم دی. د مسلمانانو وروسته پاتی کیدلو سبب دوی اسلامی تعلیمات بولی. دوی وایی څو چی له اسلام څخه لاس په سر شوی نه وی مسلمانان د ژوندانه له قافلی سره سم سفر نشی کولی.»

هغه په یو بل ځای کی لیکی: «یواځی قوانین نشی کولای ټولنه اصلاح کړی. د هغو تطبیق کول ضروری دی او د تطبیق د پاره یی حکومت ته ضرورت دئ چې ترلاسه شی. د الله رسول صلی الله علیه وسلم ددعوت او تبلیغ تر څنګ د اسلامی احکامو د تطبیق کولو هڅې هم کولی تر څو چې یو اسلامی حکومت مینځ ته راغی. او بل ځای لیکی: «شرع او عقل دواړه په موږ باندی دا فرض بولی چې د وقت حکومت باید په خپل حال باندی پاتی نشی. دا ځکه کوم حکومت چې سرکشی کوی هغه طاغوتی نظام دی، او دا څمونږه مسئولیت دی چې هغه را وپرزوو او خپله ټولنه د هغه له اثراتو او اغیزو څخه پاکه کړو. ددی کار د پاره موږ باید داسی نوی نسل تیار کړو چې طاغوتی نظام دړی وړی کړی، او په دی ترڅ کی یواځی یوه لاره ده، هغه دا چې له باطل سره ټکر وکړو. باطل او د هغه مسئولین له مینځه یوسو، دی ته وایی اسلامی انقلاب او دا د هر مسلمان مسئولیت دی. د څو له بده مرغه د ایران اسلامی انقلاب په خپله اسلامی روحیه باندی پاتی نشو، د اسلامی نړیوال انقلاب په ځای لومړی په فرقوی انقلاب بدل شو او بیا یی د ایرانی ناسیونالیزم پنو غوره کړه، هرڅه د ایرانی ملت پالنی په رڼا کی څیړی. په دی لړ کی یی دیر څله د اسلام او مسلمانانو په مقابل کی د کفارو ملاتړ کړی دی، کفارو ته یی د مسلمانانو په مقابل کی د مرستی او دوستی لاسونه غزولی دی. د روسانو له وتلو نه وروسته چې ایران د روسانو له خطر څخه خوندی شو د روسیې او نجیب له حکومت سره یی نودی اړیکی پیل کړی د افغانستان د اسلامی جهاد ګټی یی په لنګته ووهلی، فرقوی ولی به یی د خپلو ګټو په ملحوظ تقویه کولی، کله چې د طالبانو اسلامی تحریك را مینځ ته شو، تر خپل کنټرول لاندی سیمو کی یی اسلامی شریعت تطبیق کړ، په ټول افغانستان کی د اسلامی انقلاب د بریالیتوب امکانات زیات شول، ایران د اسلامی پاڅون په خلاف د برهان الدین ربانی له اداری سره هر ډول مرستی پیل کړی. د طالبانو اسلامی تحریك د ایران د پوهولو او له هغه سره د اسلامی اړیکو د جوړولو هر ډول هڅې کړی او کوی یی، خو ایران تر اوسه په خپله رویه کی کوم بدلون ندی راوستی، هیله ده چې ایران به بیرته د اسلامی انقلاب اصیل خط ته ور وګرځی او په ټوله اسلامی نړۍ کی به د اسلام او مسلمانانو د ګټو د پاره د ایران اسلامی سرمایه په کار واچوی، څو د نړۍ مسلمانان وکولی شی په ګډه سره د استعماری ځواکونو مخه ونیسی او په اسلامی نړۍ کی اسلامی نظام پلی کړی.

## د بهرنیو چارو دکمیسیون مسؤل آلمان ته ولاړ

د وری په ۳۰ نیټه د بهرنیو چارو د کمیسیون مسئول محترم محمد غوث اخند له امیر المؤمنین مجاهد ملامحمدعمر اخند سره وکتل.

له کندهار څخه زمونږ خبریال خبر راکوی چی له امیر المؤمنین سره د بهرنیو چارو د کمیسیون مسئول په آلمان کی دافغان مهاجرینو د هغه بلن لیك په اړه هدایت وغوښت چی دوی ته یی رالیږلی و.

## د فساد په مقابل کی...

غونډه د سهار دنهو بجو په شاوخواکی د عظیم الشأن قرآن د څو مبارکو آیتونو په تلاوت پیل شوه، وروسته د نمایندګی مرستیال الحاج مولوی احمدجان علماء کراموته دبده رالخلاصت ویلو په ترڅ کی وویل: تاسوته بهتره معلومه ده چی د انګریزانو پر خلاف د جهاد قومانده د علماو په لاس کی وه او بیا چی چا د دین او وطن پر خلاف د پردیو په غوښتنه د کوم ناوړه عمل د ترسره کولو نیت کړی دی، علماء کرامو یی په ډیره ښه طریقه مخه نیولی او د هغوی مقابله یی کړی ده. الحاج مولوی احمد جان وویل: د داخلی کمونستانو او بیا د روسانو پر خلاف جهاد لومړی علماؤ کرامو پیل کړی او پر ملت یی غږ کړیدی چی د کفر او الحاد په مقابل کی راپورته شی، د جهاد لومړی ټینګ مرکزونه جوماتونه او مدرسی وی، دوی نه یوازی د جهاد مقدس سنګرونه تاووده وساتل بلکی د سر او مال زیاتی قربانی یی هم ورکړی.

الحاج مولوی احمدجان وویل: تر څو پوری چی د جهاد اصلی قومانده د علماء کرامو او طالبانو په لاس کی وه تاسو ولیدل چی جهاد په بری سره مخ په وړاندی روان ؤ او آن تر دی چی د همدغو قربانیو او سر ښندنو له برکته د اسلامی نړۍ، ورونو هیوادونو او د غیر اسلامی نړۍ دوستو هیوادونو له مجاهدینو سره خپلی مرستی پیل او خبره دی ته ورسیده چی د دین مینه په دنیا بدله شوه او بیا هغه څوك رهبرانو ته زیات نژدي شول چی په چاپلوسۍ کی به ترنورو ماهر ؤو.

علماؤ چی دغه حالت وکوت نو اکثریت یی بیرته جوماتونو او مدرسوته ستانه شول او د وطن د بچیانو روزنی ته یی دوام ورکړ او په دی توګه د مجاهدینو تر منځ ورو ورو فساد لاره و مرنډله او خبره دی ځای ته ورسیده چی په افغانستان کی د اسلامی نظام د جوړیدو پر ځای دغلامی،او فساد یوه بله دوره پیل شوه.

الحاج مولوی احمدجان زیاته کړه: نن یوځل بیا چی ستاسو علماء کرامو د فتوی له مخی طالبان د فساد له منځه وړلو لپاره را پاڅیدلی او تر نیمایی هیواد څخه زیاتی سیمی یی له فساد څخه پاکی کړی دی بیاهم ستاسو د علماء کرامو مشورو او سمو لارښوونو ته ضرورت لری چی په همدی غرض په کندهار کی د علماء کرامو تاریخی غونډه جوړه شوه او دهیواد له علماؤ کرامو څخه د مشورو او لارښوونو غوښتنه وشوه، او موږ هم د خپلی نمایندګۍ د ورځنیو چارو دلا ګټور توب او اغیز منتروب په غرض تاسوته تکلیف ورکړ تر څو ستاسو په مشوره او لارښوونه خپلی ورځنی چاری عیاری کړو.

ده وویل: تجویز دادی چی په پیښور کی هم سرپیره پردی چی په کمپونو کی د علماؤ شوری ګانی شته نو د کمپونو د شوراګانو تر څنګ دی د پیښور په نمایندګی کی شوری جوړه شی چی د نمایندګی له جریاناتو څخه به په منظمه توګه د کمپونو شوراګانی خبریږی او بیا به دهماغو شوراګانو له لاری د نمایندګی د شوری فیصلو او نظریو ته انعکاس ورکول کیږی.

ده وویل: ددی ترڅنګ باید د نمایندګی د مالی لګښتونو لپاره هم یوه ځانګړی ځانګه موجوده وی تر څو دمالی مشکلاتو په وخت کی د نمایندګی مسؤولینوته مالی مشوری ورکړی.

په دی غونډه کی محترم مولوی محمد یوسف او محترم الحاج محمد صادق هم پخپل وار عالمانه او هر اړخیزی وینناوی وکړی، دوی پخپلو عالمانه وینناوکی د طالبانو د اسلامي تحریك په اړه یوړ تاریخی دلائل بیان او دغه تحریك یی د فساد په له منځه وړلو کی ګټور ارزیابی کړ. زیاته یی کړه چی دکابل اوسنی اداره نه یوازی اسلامی نه ده لری بلکی د مقدس جهاد ټول عالی اهداف یی په اوبو لاهو کړل او مسلمان ملت یی له سختی تباهی،سره مخامخ کړ.

الحاج مولوی محمد صادق د خپلو خبرو په یوه برخه کی وویل: ځینی خلك فکر کوی چی دکابل له اداری سره اوسنی جنګ سم نه دی، دوی وایی چی په دی جګړه کی به قاتل او مقتول دواړه په اور کی وی، خو حقیقت دادی چی د فساد په مقابل کی جګړه د اسلام د اصولو له مخی جایز عمل دی د مثال په ډول د یزید په مقابل کی د حضرت امام حسین(رض) قیام د همدغه شان فساد له منځه وړلو لپاره و نو (العیاذ بالله) موږ څنګه ویلای شو چی حضرت امام حسین(رض) او دده اهل بیت به په اورکی وی په داسی حال کی چی یزید په وخت کی یوازی دی فاسد و نور خو ټول شرعی حدود نافذ وو.

مولوی صاحب وویل: حضرت رسول مقبول(ص) فرمایلی دی چی په نړۍ کی مبغوض ترین خلك قاتل او مقتول د نبی دی، نو طالبان که انبیاء نه دی د انبیاؤ وارثان خو دی، نو څرنګه چی طالبان وژنی او یا دطالبانو له خواوژل کیږی دی کسانو ته مبغوض ترین خلك ویل کیږی.

په پای کی فیصله وشوه چی د صوبه سرحد په سطحه دی د علماؤ کرامو یوه شوری جوړه او د همدی شوری له منځه به دمالی مشکلاتو د حل په اړه یو هیئت ټاکل کیږی تر څو د نمایندګۍ مالی ستونزی کنترول او د نمایندګۍ مسؤولین خپلی ورځنی چاری په منظمه توګه پر مخ بوزی.

## دا خبره هر چاته معلومه ده...

په داسی حال کی وکتل چی د کندهار ولایت اداری رئیس محترم مولوی محمدطاهر انوری، د بهرنیو اړیکو مسئول محترم ملا عتیق الله آصف او د اطلاعاتو او کلتور رئیس محترم ملا امیرخان متقی هم حاضر وو.

خبریال زیاتوی د کتنی په پیل کی د عظیم الشأن قرآن څو مبارك آیتونه ولوستل شول او وریسی ښاغلی محمود مستیری ته له هر کلی ویلو وروسته محمود مستیری وویل: موږ د سولی لپاره کار کوو او لازمه دا ده چی په دی اړه خبری او مذاکرات پیل شی.

د ښاغلی محمود مستیری د خبرو په مقابل کی محترم حاجی ملا محمدحسن آخند وویل: څوك چی د افغانستان د مشکلاتو د حل لپاره کوښش کوی موږ یی ملاتړ کوو خو څوك چی حق پټوی او ناوړه تبلیغات کوی موږ ورڅخه ګیله من یو، د مثال په توګه د امریکا یو سناتور براون چی کله افغانستان ته راغلی و، موږ ده ته له غوښتنی سره سم د کتنی لپاره خپل تیاری څرګند کړ اما هغه کندهار ته رانغی او بیا یی په یوه راډیویی وینا کی وویل چی د طالبانو اسلامی تحریك ما ته کندهار ته د ورتګ اجازه رانکړه.

د کندهار والی زیاته کړه موږ همیشه د سولی لپاره کوښښ کړی او کوو یی چی خپل دغه مرام مو د علماء کرامو په عالی مجلس کی هم څرګند کړ، ده وویل زموږ پیغمبر«ص» له هرچا سره خبری کولی، خو له خپل عالی هدف څخه نه تیریدو ځکه د آنحضرت«ص» ټولی هلی ځلی د اسلام لپاره وی، موږ هم له هرچا سره خبری کوو، خو له خپل هغه عالی هدف څخه چی په هیواد کی امنیت راوستل او شریعت جاری کول دی نه تیریږو.

ده د خپلو خبرو په یوه برخه کی وویل دا چی له ربانی سره د ټول ملت قاتلان ملګری دی او ددوی لاسونه د ملت په وینو سره دی، نو موږ څنګه په هغه باندی باور کولای شو، له بلی خوا هغه همیشه د سولی د خبرو په وخت نظامی عملیات پیل کړی او د ملت وژلو ته یی دوام ورکړی دی، تاسو وینئ چی همدا اوس په چارآسیاب، لوګر، میدان ښار او دهیواد په نورو سیمو سختی بمباری،روانی دی او په نتیجه کی یی بی ګناه هیوادوال وژل کیږی.

د کندهار والی د خپلو خبرو په پای کی وویل: دا خبره هرچاته معلومه ده چی طالبان سوله او اسلامی نظام غواړی نو موږ د هرهغه چا د هلو ځلو ملاتړ کوو چی د مسلمانانو د سوکالی او د اسلامی نظام د حاکمیت لپاره یی کوی.

## د خلافت لومړي ګټه..

د تش په نامه اداری هغه ناوړه هلی ځلی په ګوته کوی چی په یوه روسی الوتکه کی یی د خپلو هیوادوالو د وژلو لپاره وژونکی وسلی راوړی او بیا دغه الوتکه د طالبانو د اسلامی تحریك له خوا په کندهار کی سبکته کیدو ته مجبوره شوه او داده اوس هم د کندهار په هوایی ډګر کی ولاړه ده. د مجلی د مطالبو په باب باید دومره ووایو چی د هر لوستونکی د ذوق او خواهش مطابق مطلب پکښی موندل کیدای شی، خو د ګټورتوب په اړه یی قضاوت ځکه ګرانو لوستونکو ته پریږدو چی کیدای شی زموږ قضاوت په هغه ټول برابر ونه ختږی لکه دراننده لوستونکی چی تری برداشت کولای شی. موږ په داسی حال کی چی ددغی درندی مجلی د چاپ له امله د طالبانو اسلامی تحریك ته د مبارکی مراتب وړاندی کوو او هغوی ته په دی مقدسه او له برکت نه په ډکه لار کی زیات بریالیتوبونه غواړو دړنو لوستونکو ته بلنه ورکوو چه د دی درندی مجلی د مطالبو په لوستلو سره خپله تنده ماته کړی.

## د شهرك ولسوالی...

پنځوس تنه افراد د خپلو عملونو په جزا ورسیدل او پنځوس تنه نور د طالبانو د اسلامی تحریك مجاهدینو ژوندی ونیول.

همدارنګه ددغو بریالیو عملیاتو په نتیجه کی د ښېر عرادو لویو او کوچنیو موټرونو په شمول زیاته اندازه سپکه او درنده وسله د مجاهدینو لاس ته ورغله.

خبریال زیاتوی چی د غور په ولایت کی د اسلامی تحریك د مجاهدینو تصفیوی عملیات په بری سره مخ په وړاندی روان دی او ته ده چی په ډیرو نژدی شپو ورځوکی به دغور د ولایت مرکز چغچران په غوڅه توګه د کابل د تش په نامه اداری له عمالو څخه تصفیه شی.

# دهیواد سیاسی او نظامی حالات تر بحث لاندی ونیول شول

## د اسلامی تحریك درغنده پروګرامونو د تطبیق په اړه ګټور تصمیمونه ونیول شول

### دلوګر ولایت په مرکز کی دطالبانو دعالی شوری غړی، مولوی احسان الله(احسان) په مشری غونډه وشوه

زموږ خبریال له لوګر ولایت څخه خبر راکوی چی په دی غونډه کی پر نورو زیاتو کسانو سربیره د اسلامی تحریك پیاوړی قوماندان او دچهار آسیاب د لومړی کرښی نظامی مسئول محترم ملاعبدالرزاق، د اسلامی تحریك وتلی قوماندان محترم ملاعبدالسلام د میدان ښار مسئول محترم مولوی عبدالرشید، دخوست والی محترم مولوی عبدالله دلوګر والی محترم مولوی محمد کبیر د اسلامی تحریك ویاند محترم مجاهد ملاخیرالله (خیرخوا) او ملا عبدالمالك اخند ګډون کړی و.

خبریال زیاتوی چی غونډه د عظیم الشأن قرآن د څو مبارکو آیتونو په تلاوت پیل او بیا محترم مولوی احسان الله (احسان) د امیرالمؤمنین محمدعمر(مجاهد) پیغام دغونډی برخه والوته ورساوه.

د غونډی برخه والو د هیواد په روانو سیاسی او نظامی حالاتو باندی بحث وکړ او د اسلامی تحریك درغنده پروګرامونو د تطبیق په اړه یی ګټور تصمیمونه ونیول، غونډه په افغانستان کی د اسلامی نظام د حاکمیت په دوعا پای ته ورسیده.

## اداره، کابل از طریق تاجکستان به سایر کشور های جهان هیروئین صادر مینماید

### سه صد فروند طیاره حامل اسلحه به افغانستان رسیده است

(جنرال دوستم)

در این اواخر در مطبوعات پاکستان خبری بنشر رسیده است که درآن جنرال دوستم ادعا نموده که: به اساس معلومات من (دوستم) سه صد فروند طیاره حامل اسلحه از طریق یك کشور همسایه بجز از پاکستان به اداره، کابل رسیده است که آن کشور همسایه در کنار کومکهای نظامی خود کمکهای مالی هم با اداره، کابل مینماید. دوستم افزوده که اداره، کابل به استفاده از راههای تاجکستان به سایر کشور های جهان هیروئین می فرستد و در قاچاق مواد مخدره ملوث میباشد و همچنان درخبرآمده است که دوستم خواستار بند شدن مداخلات خارجی در افغانستان شده است.

## د طالبان داسلامی تحریك پر خلاف...

چی دکابل د تش په نامه اداری په اشاره یی غوښتل دخوست دولایت امنیت ګډ وډ کړی.خبریال زیاتوی د خوست عالمانو، سپین ږیرو او قامی مشرانو د اسلامی حزب له کسانو سره چی په سرکی یی ښاغلی ارمان و، دسیمی د امنیت په اړه ګټوری خبری وکړی. دټولو په نمایندګی حاجی عبدالرحمن ځدراڼ د خپلو خبرو په ترڅ کی وویل: موږ ددی لپاره راغلی یو چی دسیمی دحالاتو په اړه له تاسو سره وغږیږو او دخوست د مسلمانو خلکو هغه پیغام درته ورسوو چی د خپلی سیمی د امنیت په اړه یی موږ ته راکړی دی.

حاجی عبدالرحمن ځدراڼ وویل: د خوست او پکتیا خلك هغه څوك دی چی تر هر چا دمخه یی د کمونستانو پر خلاف مقدس جهاد پیل کړی او تر هر چا یی زیاتی قربانی،ورکړی دی، دښمن ته یی دجهاد په ټولو سنګرونوکی سخت مالی او ځانی تاوانونه رسولی او په هره ساحه کی یی هغوی له غوڅی ماتی سره مخامخ کړی دی چی د خوست په هوایی ډګر کی له سلو څخه زیاتی ویجاړی الوتکی یی ډیره ښه نمونه ده.

ده وویل: داټول قربانی موږ ددی لپاره ورکړی چی په هیواد کی اسلامی نظام نافذ او داومن امنیت منځ ته راشی چی اوس زموږ دغه ارمان د طالبانو د اسلامی تحریك په وجود کی منعکس کیدای شی، خو که څوك غواړی ددی سیمی امنیت ته خطر پیښ کړی او د کابل د تش په نامه اداری په تحریك او لمسون د طالبانو د اسلامی تحریك د اسلامی پروګرامونو په پرمخ بیولوکی خنډونه پیدا کوی موږ به یی په ټینګه مخه ونیسو.

حاجی عبدالرحمن ځدراڼ وویل: اسلامی حزب کوم خاص دریځ نه لری له هرچا سره،سر چا پر خلاف سازش او ائتلاف کولای شی، دا ددی لپاره چی تربل هر څه خپلو تنظیمی ګټوته ترجیح ورکوی، خو اوس تاسوته موږ په ټینګه دا وایو چی خوست او پکتیا به دربانی د اداری په ګټه د جنګ په میدان نه بدلوئ او داخبره موږ په واګه ګوو چی د چاله خوا په کومه سیمه کی د طالبانو د اسلامی تحریك پر خلاف تخریبی فعالیت پیل کړ، نو دوخیمو عواقبو مسئولیت به دهغوی پر غاړه وی.

## زموږ هدف په هیواد کی...

هغې پرتمینی غونډی کی برخه واخیسته چی دکندهار د تاریخی غونډی د فیصلو د تأئید په اره جوړه شوی وه.غونډه د عظیم الشأن قرآن د حرمبارکو آیتونو په تلاوت پیل شوه، وریسی د خوست والی محترم حاجی آغا غونډی ته په خطاب کی وویل: زه دیوه مخلص مسلمان وروړ په توګه ستاسو خدمت ته رالیږل شوی یم، زه د خدای(ج) په مرسته د علماء کرامو او مشرانو په مشوره خپلی راسپارل شوی چاری پرمخ بیایم ځکه زموږ هدف په هیواد کی د اسلامی شرعی حکومت ټینګښت او د شهیدانو د پاکو وینو درناوی دی.

خبریال زیاتوی چی د خوست والی په خپله اورده او هر اړخیزه وینناکی د خوست مسلمانو او متدینوخلکوته دامیرالمؤمنین مجاهد ملامحمدعمر آخند سلامونه او نیک هیلی ورسولی.د خوست د محترم والی له وینا وروسته د خوست پخوانی امنیه قوماندان محترم مولوی عبدالحکیم شرعی اوږده او عالمانه وینا وکړه وی ویل: موږ او طالبان دیو وجود بیل بیل غړی یو، موږ له یو اویل څخه هیڅوك نه شی جلا کولای او نه په موږ کی اختلاف پیدا کولای شی، هغه په داسی حال کی چی د طالبانو له اسلامی تحریك سره د خپلی همکاری او پیوستون وعده وکړی د امیرالمؤمنین په توګه د مجاهدملامحمدعمر ټاکل یو ضروری عمل و بالله زیاته یی کړه: هغو کسانو چی طالبانو ته یی بهانی جوړولی اوس د ربانی له اداری څخه پیسی راوړی او د طالبانو د اسلامی تحریك پرخلاف غونډی جوړوی.

خبریال زیاتوی چی د غونډی په ویناوالوکی محترم مولوی ارسلا رحمانی هم ؤ، هغه هم غونډی ته په خپله عالمانه ویناکی د کندهار د تاریخی غونډی د فیصلو په اړه د خپل تائید ترڅنګ او د امیرالمؤمنین په توګه د مجاهد ملامحمدعمر ټاکنه د وخت مهم ضرورت وباله او په دی باب یی د خپلی هر ډول همکاری ژمنه وکړه. همدارنګه دغی درندی غونډی ته د ګربزو د قام په نمایندګی،مولانا سیدخان د نادرشاه کوټ دولسوالی د خلکو په نمایندګی،مولوی حضرت ګل او یو شمیر نورو عالمانو او مشرانو ګټوری او هر اړخیزی ویناوی وکړی او د کندهار د تاریخی غونډی د فیصلو د تائید په ترڅ کی یی د دین او وطن د خدمت په لارکی د هرډول همکاری،او مرستی ژمنه وکړه. دغونډی په پای کی د خوست امنیه قوماندان قاری عبدالمتین د سیمی او دخوست دښار د امنیت په اړه دغونډی برخه والوته پوره معلومات ورکړل زیاته یی کړه: موږ کوښښ کوو چی په سیمه کی خلك په واړه زړه پرته له ویری خپل ژوند ته دوام ورکړی، نو په همدی غرض موږ ټولی هلی ځلی د خوست د ښار او سیمی د اوسیدونکو امنیت ته متوجه کړی دی، ده واد ورکړ چی د لوی خدای(ج) په مرسته او دسیمی د خلکو په همکاری به هیچاته ددی اجازه ورنه کړی چی دخوست دخلکو امنیت ګډ وډ او آرامی یی په ناارامی بدله کړی.

## طالبان افغانی مدارس صوبه سرحد...

مولوی شهاب الدین دلاور مولوی نورمحمد ثاقب، و مولوی محمد مسلم حقانی دایر گردیده بود. خبرنگار ما می افزاید که: بتاریخ ۱۳۷۵/۱/۲۶ یك جلسه با شکوهی در محوطه مدرسه مبارکه حقانیهٔ از طرف طلاب افغانی منعقد گردید که در آن جنابان الحاج مولوی محمد صادق و مولوی نورمحمد ثاقب صحبت نمودند.

الحاج مولوی محمد صادق در صحبت خویش طلاب عزیز را به جهاد علیه اداره، مفسد و ائتلافی ربانی تشویق کرده، و پیرامون کارنامه های اسلامی و انقلابی طلاب تحریك اسلامی طالبان که در (۱۵) ولایت تحت تصرف تحریك انجام داده اند روشنی انداخته و همچنان پیرامون ارزش و اهمیت شرعی فیصله های شوری بزرگ و تاریخی علماء در قندهار که در آن جناب ملامحمدعمر مجاهد از طرف علماء کشور به حیث امیرالمؤمنین تعیین و با اوشان بیعت شرعی صورت گرفت، معلومات و روشنی مفصل ارائه داشتند که از طرف حضار به علاقمندی زیادی استقبال گردید.

در این گردهم آئی طلاب، مولوی نورمحمد ثاقب، آنها را به جهاد تشویق کرده گفتند: که در صفوف مقدس و اسلامی تحریك قرار گرفتن باعث عزت در دنیا و آخرت میگردد.

مولوی صاحب افزودند: درس و تدریس گرچه از اهمیت بزرگی برخوردار بوده اما دفع فساد و منکر از همه اهم و ضرور میباشد و این کار بشکل درست آن از طریق تحریك طالبان انجام شده میتواند و پس لذا توجه (به اهم فالا هم) باید نمود و هوشیارانه ضرورت و اهمیت وقت را در نظر گرفت، ترك و قطع سلسله تدریس و تعلیم یك امر مؤقتی بوده که بعد از دفع فساد و منکر و اقامه حکومت و نظام شرعی بشکل درست و خوبی آن از سر گرفته میشود (ان شاءالله).

مولوی صاحب افزودند: که تحریك اسلامی طالبان به اساس نیکی و تقوی اتکاء داشته و طرف مقابل (اداره، مفسد ربانی) به گناه و عدوان متکی میباشد، و خداوند بزرگ (جل جلاله) ما را به تعاون به نیکی و تقوی مکلف فرموده و از تعاون به اثم و عدوان منع نموده است. اگر ما در کنار تحریك قرار نگیریم غیر مستقیم در اثم و عدوان قرار خواهیم گرفت.

خبرنگار ما می افزاید که: در اخیر جلسه به اتفاق طلاب با جناب امیرالمؤمنین بیعت خود را اعلان داشتند و آماده، رفتن به سنگر های مقدس جهاد شدند.

خبرنگار ما خبر میدهد که بتاریخ ۱۳۷۵/۱/۲۷ در مدرسه، (دارالعلوم تعلیم القرآن) باره گیت مجلسی منعقد شده که در آن مولوی محمد مسلم حقانی بیانیه، عالمانه، ایراد نمودند که متعاقباً وفد علماء کرام به معیت جناب مولانا عبدالله صاحب چترالی به مدرسه امداد العلوم (شاه فیصل) رفته و در آنجا هم جلسه بزرگی دایر گردید که در آن جلسه محترم مولوی نورمحمد ثاقب بیانیه، عالمانه، ایراد نمودند که در آن آمده است: در همه جهان ترقع قیام نظام اسلامی از مجاهدین افغانستان میشد که متأسفانه بعد از پیروزی از آن چیزی بدست نیامد بلکه جهاد و نظام اسلامی روی اعمال بد اوشان بدنام گردید. مولوی صاحب افزودند که کشتی جهان اسلامی در حال غرق شدن میباشد، نجات آن وظیفه، همه، آنانی میباشد که از خاطر اسلام تلاش و سعی دارند آنها اگر طالب است اگر مدرس، اگر پیر و یا مرید و اگر برادران تبلیغی و هر آن کسی دیگری که در راه حاکمیت اسلام کار میکند باید به اتفاق این کشتی در حال غرق شدن را نجات بدهند.

مولوی صاحب در مورد جلسه، تاریخی کندهار و فیصله های شرعی آن هم روشنی انداختند.

خبرنگار ما میگوید: که ثاقب صاحب پیرامون حقانیت تحریك از نگاه شریعت اسلامی روشنی مدلل انداخته گفتند که بعضی افراد در این مدرسه در مورد تحریك خالص اسلامی طالبان و جهاد که اوشان علیه منکرات شرعی و اقامه، نظام اسلامی شروع کرده اند شك و تردیدی ایجاد مینمایند که تبلیغات اوشان حقیقت شرعی ندارد و در مورد که قاتل و مقتول در کدام حالت جمعاً در نار میباشند و فتنه در کدام حالت صورت میگیرد روشنی انداخته و به کتب معتبر فقها حواله های دادند که از طرف طلاب یادداشت شد، در اخیر جلسه همه، طلاب با امیرالمؤمنین ملامحمدعمر مجاهد بیعت خود را اعلان داشته آمادگی رفتن خود را به سنگر های جهاد ابراز داشتند.

خبرنگار ما می افزاید که به این ارتباط جلسه هم در مدرسه، کاخکلیه (ملك منصوری) دایر گردید که در آن جناب الحاج مولوی محمدصادق سخن رانی کرد که در آخر جلسه طلاب [illegible] امیرالمؤمنین بیعت کرده، آمادگی خود را غرض رفتن به سنگر های جهاد اعلان داشتند.

| د ګډون بیه | شپږمیاشتنی | کالنی |
| --- | --- | --- |
| پاکستان | Rs. 200 | Rs. 400 |
| د خلیج هیوادونه | SR. 150 | SR. 300 |
| اروپا او امریکا | $: 75 | $: 150 |

## مجاهد علماء کرام دي...

ونحمده و نصلی علی رسولکریم و بعد:

ټولو علماء کرامو، مشایخو او استاذانو ته السلام علیکم و رحمة الله و برکاته.

ټول ستړی مشئ په خیر راغلئ هر کله راشئ.

محترمو زموږ مجاهد مشر الحاج مولوی جلال الدین حقانی چه اوس د حرمینو شریفینو په دوره دی موږ ته ئی تیلفونی اطلاع راکړی وه چه انشاء الله د افغانستان د علماء و تاریخی شوری ته ځان رسوم مګر د ځینو مشکلاتو په اساس راونه رسید؛ زه به دده یو شفاهی پیغام ستاسو محترم حضور ته ورسوم:

بسم الله الرحمن الرحیم

عزتمندوا موږ پنځلس کاله وسله وال جهاد په سر او مال خاص د الله (ج) د رضا په خاطر او په ملك کی د یو سوچه اسلامی حکومت جوړولو لپاره وکړ. د افغانستان مجاهد ملت هر قسم قربانی ورکړی چه په نتیجه کی مو د روس امپراطوری او شوروی اتحاد ټوټی ټوټی کړ او د کمونستانو د حکومت له سقوط څخه وروسته د افغانستان د ځینو جهادی تنظیمونو د قدرت په سر د خپلمنځی جګړو د بندولو دپاره د الله (ج) د حکم مطابق مو د افغانستان د حقانی علماء، او صالحو جهادی قوماندانانو او صالحو قومی مشرانو په شمول په سوله لاس پوری کړ او دسولی په لارکی مو هم تر خپله وسه د سر او مال قربانی ورکړی مګر د قدرت جاه او جلال غوښتونکو زموږ په مظلوم ملت باندی ترحم او شفقت ونکړ.

کله چه د طالبانو د اسلامی تحریك غیرتنو مجاهدو ورونو په افغانستان کی د جهاد د مقدسو اهدافو د لاس ته راوړلو په خاطر او په ملك کی د یو سوچه اسلامی نظام جوړولو لپاره او د پوره امنیت راوستو او د مظلوم ملت په زخمونو د پټیو لګولو په منظور او د ګران وطن د بیا اباد ولو په خاطر ئی خپل جدو جهد شروع کړ موږ د خپل سر او مال د قربانی ورکولو ملاتړ ورسره اعلان کړ چی تر اخره به د شریعت محمدی(ص) په چوکاټ کی د ده او د دین د خدمت لپاره تر مرګ پوری ورسره یو بله خبره داده چه د افغانستان حق وینونکی مجاهد علماء کرام دی مطمئن اوسی چه زه به د دوی تر شاه دیو وفادار عسکر او د دین دیوه ثابت سپاهی په شان تر مرګ پوری د حق فیصلو د تطبیق لپاره او د مقدس جهاد داهدافو د لاس ته راوړلو په خاطر د خپلو مجاهدو ورونو سره محکم ولاړ یم.

السلام علیکم و رحمة الله و برکاته

## اګر مسئله، افغانستان...

به بعضی از سران تحریك در موضوعات متعدد صحبت کردند که در آن مسئله، تعلیم و تربیه، مواد مخدره، اسراء روسی و مذاکرات صلح آمیز قضیه، افغانستان شامل بود. مولوی صاحب افزودند که: خواسته رافل به ارتباط مذاکرات این بود: اگر میان ربانی و سائر گروهها یك کنفرانس احتمالی دایر گردد آیا طالبان در آن اشتراك خواهند کرد یا خیر؟ ما در جواب مشارالیها گفتیم: ربانی هرگاه به مذاکرات غیر صادقانه آغاز نموده توأم به آن دست به عملیات نظامی هم زده است برای فعلاً در اطراف کابل، و ولایت غور دست به بعضی تحرکات و عملیات نظامی زده اند، ما همیش برای صلح کار کرده ایم اگر مسئله، افغانستان بغیر از جنگ حل میشود چرا به آن حاضر نباشیم که مسئله را حل نمائیم.


SHARIAT WEEKLY

Publisher : Islamic Movment of Taliban of Afghanistan.

Editor -in- Chief : Movlavi Ahmad Jan.

Tel : 840378

PAK - RUPE A/C, CD. No. 1694 -69.

Habib Bank LTD. Tehkal Bala Branch (Code 0267)

Peshawar, Pakistan


## عید قربان در پهلوی روز (۷ ثور)

عید سعید اضحی که عید حج و در مکالمه عامه عید قربان یاد میشود حیثیت پس بزرگ اسلامی و تاریخی دارد که از آن رو محبوب همه مسلمانان جهان است، اما برای حجاج کرام ازینجهت که موقع حصول سعادت ادای فریضه حج و مناسك رقت آور و گریه آمیز و فرصت توبه و انابت و ندامت به گناهان و وقت رجحان رجای عفو و مغفرت است، و اما برای غمدیدگان و وارثین قربانیان سبیل الله (واماندگان شهدای کرام دست آویز تسلیت و آرامی قلب است زیرا از سرگروه قربانیان سبیل الله سیدنا اسماعیل ذبیح الله پیغمبر و فرزند ارشد سیدنا ابراهیم خلیل الله علیهما الصلوات و السلام باخود حکایتها و یاد آوری ها دارد و اما برای توانگران زمان بدست آوردن اجور و ثوابها، نه ثوابهای صدقات نفلی و استحبابی بلکه ثواب واجب شرعی که برابر با ثواب فرائض است. و اما برای فامیلهای ناداران و گرسنه گان انتظار گاه و حصول تحفه قربانیها است، و اما برای مجاهدین فی سبیل الله پیام آور تصحیح و تنقیح نیتها و حصول درجات قرب او تعالی است.

از این جا است که همه مسلمانان این روز های خجسته و فرخنده را بخوشی میگذرانند، لباس های خوب می پوشند و مهمانیها و مجالس طعام خوری ها برپا میدارند و بحضور خالق بی نیاز شکرها بجامی آورند، جای تأسف است که بعضی از مسلمانان در خوشی های عید بجای شکرانه پای را از خط مقرر شرعی فراتر نهاده مرتکب کارهای ناروا و حرام میگردند که بفهماندن و تنبیه اشد ضرورت دارند.

در این اثنائیکه از فضائیل، برکات و خوشی های این روز میمون عید صحبت میکنیم به یك بارگی بیاد روز فاجعه انگیز ۷ ثور ۱۳۵۷ش می افتیم که گرچه روز مذکور به ذات خود سیاه نیست ولی مصیبت ها و اندوه و درد مارا سر آغاز بوده و امسال با عید سعید ما قرین است (قیس القرین) از همین روز ملت مسلمان افغانستان دید آنچه را که دید و جهانیان هم دیدند و شنیدند آنچه را که نه دیده بودند و نه شنیده، مجاهدین مؤمن و شهدای صالح افغانستان رحمهم الله تعالی حماسه ها ساختند تاریخ این دو عشره و جغرافیا را دگرگونی بخشیدند و قریب بود که ستاره، اقبال افغانها بروز ۸ ثور ۱۳۷۱ش بدرخشد، و به گوشه های مظلوم و تاریك جهان پرتو بیفگند و مستضعفین در نور آن راه مقصود مشخص نمایند و عالم اسلام از افتخار آن برخود ببالد ولی چه توان کرد! باهزاران تأسف و تلهف باید بگوئیم که بعض از رشته بدستان کم استعداد وبی خرد جهاد به شتابزدگی های طفلانه و کمال خیره سری برنج آب را عجولانه بجای کاسه به دامن میخواستند نگذاشتند که آفتاب فتح پیروزی مسلمانان غیور و زجر کشیده ما جهان تاریك ظلم و استبداد را روشن کند و جهان کفر و اسلام با مزایا و بهروزی های نظام برحق و با برکت اسلام آشنا، شود، از تامین امنیت و گسترش عدالت و زیست با همی مطمئن بهره گیرد، در غرور تکبر و خود خواهی، در شدت فشار غریزه حب جاه و مال تاگلو و گوش فرو رفتند، یا بی از مصیبت های نو و آشوب های جدید بر رخ این ملت مسلمان رنج دیده و ناصبور برگشودند و تا این دم دوام دادند و روز ۸ ثور ۱۳۷۱ ش را با امید ها و توقعات آن با روز ۷ ثور ۱۳۵۷ش یکجا کرده در باب و فصل روزهای مصیبت تاریخ ما جا دادند، با این تفاوت که روز ۷ ثور سرخط مصیبت از بیگانگان و مزدوران شان بود و روز ۸ ثور عنوان مفتح مصیبت از شبه بیگانگان است؛ به همین حساب این عید مبارك عید پنجم ما است که با مصیبت های جدید و فتنه های تازه آن را استقبال میکنیم و پیش از رسیدن وداع میگوییم.

اینکه مجاهدین پاك طینت تحریك اسلامی طالبان کمر همت را محکم بسته اند که فتنه ها و مصیبت های ساخته دست فتنه جویان و اشوبگران را از سر مسلمانان بردارند و خاتمه دهند، جای یگانه امید و انتظار و خوشی ما مسلمانان است که الحمد لله به نصرت او تعالی در اضافه از نیم افغانستان احکام شرعی نافذ امن و سکون قایم، زندگی روز مره مردم بحالت عادی برگشته و همه چیز انشاء الله تعالی روبه بهبود پیش می رود با ملاحظه این حالت عید خوبی است برای ملت رنج دیده ما و در عین حال دعای همیشه گی ما اینست که خداوند کریم و رحیم به حال ما رحم فرماید، مجاهدین خدا ترس و پهیزگار تحریك اسلامی طالبان را امداد فرماید تا نیمه، باقیمانده، افغانستان را هر چه زودتر از شر ظالمین و آدم کشان قطاع الطریق وارهاند و در زیر رهنمونیهای قیادت صالح، مجاهد و خداپرست نظام الهی در تمام افغانستان و جهان اسلام نافذ، قائم و دایم بدارد. آمین.

## دمبارکی مراتب

د شریعت د اوونیزی مسئول او د تحریر هیئت د شریعت غږ راډیو د رئیس په توګه د ملامحمد اسحق نظامی د مقرری له امله دخپلی مبارکی مراتب وړاندی کوی او هغه ته ددین او وطن د خدمت په لارکی د لوی خدای(ج) له درباره څخه دزیاتو بریالیتوبونو غوښتنه کوی.

## روزهٔ عرفه

از ابوقتادهٔ رضی الله عنه روایت شده که گفت از رسول الله صلی الله علیه وسلم در مورد روزه، روز عرفه پرسیده شد. فرمود: گناه سال گذشته و سال حاضر را محو می کند. (مسلم)

البته این حکم بدون حجاج میباشد

## حملات اخیر بر جنوب لبنان...

را بر مردم مظلوم آنجا ادامه میدهد که در نتیجه، آن حملات بی رحمانه دهاتن بشهادت رسیده و دهها تن دیگر معیوب گردیده اند از جمله برکمپی که در اشراف ملل متحد قرار داشت هم خود داری نکرد.

گرچه از دشمنی همچو (یهود) که قرآن کریم خصوصیت و طبیعت ظالمانه و غادرانه، آنرا مکرراً به مسلمین و انسانیت یاد آور شده است توقع خیر، صلح و سلم نرفته و نمیرود، و هیچگاه بر آن غادر اعتماد شده نمیتواند.

حمله، اخیر بی ثباتی و عدم اصولی بودن توافقات عرب و اسرائیل را نشان داد که نباید تحت فشار و عاطفی منافع برحق مردم فلسطین و جهان عرب و مسلمین را دست خوش هوسهای قدرتهای کفری جهان نمود، باید هر حرکت صلح و مذاکره بر اصول و متکی بر منافع اسلام و مسلمین باشد.

ملل متحد که یك اداره، باوقار جهانی میباشد متأسفانه در تحت اثر اول قدرتها طاغوتی جهان عمل مینماید و نتوانسته که مستقلانه از حقوق برحق توده ها و ملتهای مظلوم بشری دفاع و حمایت نماید. که عدم توفیق ملل متحد در محکوم کردن حمله، اسرائیل بر جنوب لبنان مبین ادعای ما میباشد سازمان ملل متحد از این ناحیه در قبال مردم مظلوم لبنان تقصیر بزرگی را متحمل گردیده است.

## یادونه

ښایی ستاسو ایمان به اجازه درنکړی چی دا دول سپیڅلی پاڼی په ناوړو ځایونو کښی وغورځوی.

(اداره)